# لا به ډېر ګلونه وشي په کرکر کې

(د مرکزي بغلان د شاعرانو ادبي تذکره)

## لومړی ټوک

زيار ښکونکي:

عبدالوهاب مومند

عبدالمبين صافی

نورگل [illegible]

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کتاب ځانګړنې:**

کتاب: لا به ډېر ګلونه وشي په کرکر کې
زيارښکونکي: عبدالوهاب مومند، عبدالمبين صافی او نورګل اندړوال
سمون او اېډېټ: عبدالمبين صافی او عبدالوهاب مومند
کمپوز او ډېزاين: زيار ښکونکي
خپروندی: نور خپرندوی ټولنه
د خپرېدو کال: ۱۳۹۸ لمريز
چاپ وار: لومړی
د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه
چاپځای: کابل/ افغانستان

**د دغه کتاب ټول حقوق له زيار ښکونکو سره خوندي دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ:

د ادب لارویانو ته چې د
ادب په لاره ګرځي، او د ادب په لاره پايي..!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لړلیک


لا به ډېر ګلونه وشي په دا بڼ کې........................................ ز

نامی از خویش در جهان بگذار........................................ي

زنده گانی برای مردن نیست........................................ي

لا به ډېر ګلونه شنه شي په دې بڼ کې........................................ك

څو خبرې........................................ م

محمد طاهرقلم دوست ........................................ 2

بندي امير جان (امير جان بنگي)........................................ 5

غایب بورجان ........................................ 8

جمعه خان توخی ........................................ 11

ضيا الحق نگهت........................................14

عبدالخالق داور........................................17

محمد وسیم مومند........................................20

ذکر الله ملنگ........................................23

شکرالله خوشحال صافی ........................................27

عبدالروف وافی ........................................31

احسان الله درويش ........................................34

بریالی مشتاق ........................................37

عبدالکريم جاوید........................................39

بسم الله شریفی ........................................42

توریالی توخی........................................45

(c) ketabton.com: The Digital Library



راز محمد راز ........................................48
احمد شاه پاڅون ........................................51
محمد عوض نومیال........................................54
قاري شېرعلي لکڼوال ........................................57
ذبیح الله نوري سلېمانخېل ........................................60
شفیق الله احمدزی ........................................63
عبدالکریم کبیری ........................................66
محمد کریم ادیب ........................................68
سید اسد الله غالب ........................................72
احمد جاوید حکیمی........................................75
ناصر سروري........................................78
عبدالمتین شورش........................................81
نورګل اندړوال ........................................84
عبدالمبین صافی ........................................88
رحمت الله قریشی........................................91
عبدالقیوم طاهری ........................................93
فضل الرحمن سیرت ........................................96
سمیع الله دولت زی........................................99
عبدالوهاب مومند ........................................102
عاشق الله جلال زوی ........................................105

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لا به ډېر ګلونه وشي په دا بڼ کې

ادبي تذکرې د یوې ژبې ادب تاریخ ته خام مواد په لاس ورکوي، یا په بل عبارت د ادب تاریخ لیکنې ستره تکیه د تذکرو پر معلوماتو ولاړه ده. هسې تذکره په پښتو ادب کې اوږده مخینه لري، تذکره اولیاء او پټې خزانې زموږ د ادب تاریخ سترې برخې خوندي کړې او د څېړنې ګڼ مواد او موارد یې په لاس راکړي دي.

تذکره ذکر کولو یا یادون ته وایي چې عربي مصدر لري او په ادبي اصطلاح کې هغه اثر ته ویل کېږي چې د شاعرانو حال او احوال، ژوند، لوړې ژورې او د اثارو منظومې او منثورې بېلګې په کې معرفي شوې وي.

په تذکره کې موږ د لیکوال یا شاعر له ژوند څخه هر اړخیز معلومات تر لاسه کوو، مثلاً څوک دی، څنګه دی، چېرته زېږېدلی، د چا کره زېږېدلی، څومره زده کړې، څه فعالیتونه او څه کارونه یې کړي، څومره اثار لري، څه وخت مړ شوی، قبر یې چېرته دی؟ سبک او یا د سبک پیروي یې څنګه ده؟

د ادبیاتو څېړونکو د تذکره لیکنې لپاره ځانګړني ټاکلې دي چې لومړی یې د شاعر بشپړ حال احوال، دویم یې د هغه اثار او پنځونې، درېیم یې د موضوعي او شکلي اړخ څېړنه او څلورم یې هم نثري او شعري بېلګې راوړل دي.

دې ځانګړنې ته په پام سره کله کله زموږ ادب تاریخونه او ادبي تذکرې یو د بل حریم ته ننوځي او لوستونکي ته نا مسلکي معلومات وړاندې کوي. په ادبي تذکره کې د لیکوال یا شاعر هر اړخیز ژوند را اخیستل کېږي، د شخصي ژوند برخې یې را سپړي، غیر ادبي فعالیتونه یې یانې هغه چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادبياتو سره تړاو نه لري، را اخيستل کېږي، کورنۍ، قوم، قبيله، عادتونه، ځانګړتياوې، زده کړې او په ټوله کې يې له ټول ژوند يو انځور وړاندې کوي.

خو ادبي تاريخ بيا تر ډېره سره کار نه لري، يوازې د ليکوال يا شاعرانو له ادبي ژوند، ادبي اثارو، کړو وړه او فعاليتونو سره تړاو لري او حتی ځينې وختونه خو بيخي ارزښتناکو ادبي اثارو او بېلګو ته اهميت ورکول کېږي.

ادبي تاريخ موږ ته دا معلومات راکوي چې د ليکوال فکر څه ډول دی، د کوم سبک يا مکتب بنسټګر يا استازی او پيرو دی، ادبي پنځونې يې په څه ډول حالاتو او ټولنيزو شرايطو کې رامنځته کړې دي، خو دا چې له چاسره يې اړيکې وې، بيوګرافي، اصل و نسب، کور، پيدايښت او هديره يې چېرته ده، دا کار ادبي تذکرې ته پرېږدي.

په ادبي تاريخونو کې لکه څرنګه چې د ادبياتو تعريف کې راځي، هنري ارزښت ته اهميت ورکول کېږي، څېړنې او مطالعات وړاندې کېږي، خو په ادبي تذکره کې بيا ادبي ارزښت ته پام نه کېږي، هلته شاعر او ناظم دواړه يو ډول راوړل کېږي، د اثارو کمزورۍ او پياوړي ټکي هم ارزوي.

ادبي تذکره يوازې يوه يادونه ده، له ورکې څخه د يوه اديب او ادبي توکي ژغورل دي، تذکره ليکوونکی دا نه وايي چې شاعر يا دا ليکوال تر هغه بل ښه يا بد دی، دا آثار څومره ادبي ارزښت لري يا يې نه لري، خو ادب تاريخ وړاندې ارزونه، تحليل او شننه کوي، يوازې په تشه اخيستنه او يادونه بسنه نه کوي،

په تذکره کې ممکن پر يو دوو بېلګو بسنه وشي، خو ادبي تاريخ کې د هغه ګڼې بېلګې او ادبي پنځونې خوندې کېږي او ټول ادبي ژوند يې په تفصيل سره را نغاړي، خو د ادبياتو له دايرې له وتلو نورو فعاليتونو او لاسته راوړنو سره يې کار نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بغلان ولایت د مرکزي بغلان ولسوالۍ د شاعرانو تذکره زموږ د تذکرو د لړۍ یوه بله غوره زیاتونه ده چې په چاپ سره به یې د یوې لرې پرتې، خوا ادب پاله او سمسورې سیمې د اوسنیو شاعرانو ژوند لیکونه او د اثارو بېلګې خوندي او د ادب د پاڼو ښکلا شي.

د یادې تذکرې ځانګړتیا په دې کې ده چې د پښتو او دري ژبې دواړه شاعران په کې یو د بل تر څنګ راغلي او دا په تېر کې زموږ د ادیبانو یوه تشه وه چې یو د بل له تجربو یې ګټه نه اخیسته او سره لرې شوي وو.

اوسنۍ ادبي تذکره ممکن د تذکره لیکنې په ځینو عالي معیارونو برابره نه وي، خو بیا هم ځکه د ستایلو وړ ده چې زیارکښانو یې په کمو امکاناتو او د ژبنۍ خواخوږۍ له مخې نه دې غوښتي چې ددې اوسني شاعران د زمانې له ذهنه ووځي او هغه د عبدالباري جهاني خبره شي چې:

د غرونو ګل وم غوړېدلو کې چا ونه لیدم

لکه نسیم په تېرېدلو کې چا ونه لیدم

دا چې تذکرې له مسلکي اړخ او خوندي کولو ور هاخوا د شاعرانو او ادیبانو په هڅونه او ویښولو کې هم ستره ونډه لري، نو باوري یم چې ددې ټولګې په خپرېدو سره به هم په تذکره کې راغلي شاعران د خپلو اثارو کیفیت ته لا ډېر پام وکړي او هم به له ادب سره خپلې ژمنتیا پالنې ته دوام ورکړي.

**په مینه او ادب**

**ګل رحمن رحماني**

**۱۳۹۸، د غویي ۳ مه**

**بغلان پوهنتون/ پښتو څانګه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نامی از خویش در جهان بگذار    زنده گانی برای مردن نیست

کتابی که شما در دست مطالعه دارید، چکیده یی افکار شاعران ولایت بغلان خصوصاً تراوش مقفای اذهان شیرازه بندان ولسوالی بغلان مرکزی است.
جای مسرت است که علیرغم نابسامانی های اجتماعی و سیاسی و اقتصادی به همت شایقان شعر و ادب این کتاب اقبال چاپ و نشر یافته است. با وجود کمی ها و کاستی هایش روزنه ی امیدیست برای محصلان و دانش در مورد شعرای گمنام این گوشه ی از سرزمین کشور عزیز ما، شعرای تازه کار و نور پردازی که اوضاع و احوال میهن را از ابعاد مختلف در قالب نظم به رشته ی تحریر در آورده اند.
بدین وسیله نام شان در جریده ی عالم به یادگاری خواهد ماند. در شرایط بحران و جنگ های داخلی این مجموعه چون گلی در شوره زار وطن و احساسات آدم هاست. کلام موزون و متخیل در طول تاریخ ادب هوا خواهان و مشتریان فروانی داشته است و خواهد داشت. با صنعتی شدن جهان و کمپیوترایز شدن دنیا و دغدغه ی زندگانی هر روز نیاز انسان به این گونه متاع ادب بیشتر از پیش احساس میشود.
امید واریم این نمومه ی کوچک راه گشای چاپ آثار بعدی شاعران و نویسندگان و هنرمندان این خطه گردد. و عطش خوانندگان کالای ادب را فروکش کند. به امید قطع جنگ و صلح سراسری در کشور عزیز مان، جا دارد از تمام عزیزانی که با پشت کار و سعی خستگی ناپذیر در گرد آوری اشعار این مجموعه سعی و تلاش بی معاش فرموده اند قدر دانی کنیم.

بعد از وفات تربت ما بر زمین مجوی
در سینه های مردمِ عارف مزارِ ماست

**عبدالخالق داور**

**بغلان مرکزی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لا به ډېر ګلونه شنه شي په دې بڼ کې

لا به ډېر ګلونه وشي په کرکر کې په نامه چې کومه ادبي ټولګه په پښتو او دري ژبو چاپ ته آماده شوې ده محتوايې د غزل، صوفيانه، حماسي، علمي او په ولسي فورم کې ده، د مرکزي بغلان ولسي شاعرانو د اشعارو نمونې دي، چې هنري فن احساسات او عواطف پکې د هېواد ناخوالې، درد، بې عدالتي په شاعرانه انداز او ادبي فن د مانا دارو الفاظو جوړښت کې له ورايه ځرګندېږي.

ددې شعري ټولګې اشعار په پښتو او دري ژبو د ادب مينوالو ته د ځوانو او تاندو شاعرانو او ادب پالو په هڅو هر يو ښاغلی عبدالمبين صافی، عبدالوهاب مومند او نور ګل اندړوال په زيار او همکارۍ چاپ ته تر دې ځايه رارسولي دي. خدای (جل جلاله) دې دوي د اوږد عمر خاوندان کړي، چې همداسې نورې کړني په لاس ولري او تل د لوستونکو ادبي تنده پرې خړوبه کړي. که څه هم په مرکزي بغلان کې ۱۳۸۵ لمريز کال راهيسې د پښتو او دري ژبو شاعرانو شتون ډېر شوی دی، خو تر اوسه د ګوتو په شمار شعري ټولګي يې چاپ شوی دي . د خدای (جل جلاله) په مرسته د ځوانانو ادبي خوځښتونه د دې ښکارندويي کوي چې که نن نه سبا ته د سپرلي په راتګ باندې آرامه او بې ډاره ژوند سره ددې بڼ ګلان راوټوکېږي او ښکلا به يې د طيف مخ ته راوغوړېږي. او د غوټيو ښکلا او خولې له خندا ډکې شي.

تر دې دمه د مرکزي بغلان ځوانان او د شعر مينه وال په ادبي غونډو کې ګډون کوي چې بېلګه يې د بغلان دې پوهنې ادبي بهير، د مرکزي بغلان د کوږچنار ادبي بهير او د مرکزي بغلان دې ځوانانو يووالي شورا ادبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوځښتونه دی، چې اونۍ کې یو ځل دا غونډه جوړېږي او ځوان او تاند ویناوال خپلې لیکنې اوروي .

ځوان لیکوالانو او شاعرانو نه مې هیله داده چې د یووالي په مټ او د قلم په ځواک خپلو هڅو ته دوام ورکړي، خپل په هنري فن او ادبي ژبه او سبک د خپل ژبې غنامندي لپاره د کتاب په چاپولو خپلې وروسته پاتې ټولنې ته د چوپړ جوګه شي او خپل ګران او ارزښتناک وخت دې د کتاب په لوستلو او لیکلو سره بوخت وساتي( نورو ولیکل موږ ولوستل، موږ یې لیکو چې نور یې ولولي).

**په درنښت او مینه**

**جمعه خان توخی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څو خبرې

ادب د علومو سمندر کې يوه لويه څپه ده، چې خوند او ځواک يې د انسان ضمير سره تړاو لري. ادب داسې ښکارنده حقيقت ده، چې تل يې ويښ ضميرونه په حرکت راوستي او ويده ضميرونو يې په کلکه لړزولي دي. د علومو په سمندر کې هر چا خپل وس کړي دي، څو ډېر ولوبېږي او ډېر څه لاسته راوړي، ځکه چې ګاڼه او خوند يې په کې موندلي. د تاريخ پاڼې ځکه رنګينې شوي او په خوند خوند لوستل کېږي چې تېرې پيښې او کيسې زمونږ تر غوږونو رارسوي او ډېر نا ويلې کرښې د کتاب په مخ راباسي. دا چې ليک په کاغذ شو، شتون يې حتمي؛ خو زوال يې خورا ستونزمن ده په همدې موخه زمونږ ټاټوبي (مرکزي بغلان) کې شايد په پېړيو وړاندې شاعران او اديبان تېر شوي وي؛ خو اوس مهال يې نوم او يا کومه نښه نه ترسترګو کېږي، همدارنګه اشعار او آثار يې هم د هغوی پشان د هېر رومان ته سپارل شوي دي، غواړو دغه لړۍ پای ومومي او زمونږ د دورې اديبان د هېر ياد ته ونه لېږدول شي. دا چې زمونږ بڼ کې ډېر شاعران او ورته نورې رنګينې غوټۍ بلا هيله بخښونکي دي؛ نو وموغوښتل کرکر د بڼ ګلان په ادبي تذکره کې راونغاړو چې ياد يې تل سمسور پاتې شي. مرکزي بغلان کې لا تر اوسه کومه ادبي تذکره نده ليکل شوې او نه په دې اړه کوم کار شوی، (لا به ډېر ګلونه وشي په کرکر کې) لومړنۍ ادبي تذکره ده چې چاپ ته سپارل کيږي، يادې تذکرې په پنځونو کې يو نوښت دا دی چې بغلان مېشتو شاعرانو ژوند لړۍ او اشعار د هغوی پخپلو مورنۍ ژبو وړاندې شوې، چې ادب ته د ژمنتيا او يووالي ته مو د وفا ښکارندوي کوي، دغه نسخه کې د ورکو شخصيتونو پېژندلو سره سره هڅه مو کړې هغه شاعران چې مرکزي بغلان کې يې ادب ته خدمت کړی خو يادې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمې کې ژوند نکوي هم راونغاړو، همدارنګه داسې څېرې چې ګمان نکېده لا تر دې دمه دې شاعر وي او یا یې په اړه لا تر اوسه چا یوه کرښه نده لیکلې په اړه یې څېړنه شوې او نا ویل شوې یې دلته لیکل شوي دي. د تذکرې مالوماتو په راټولونه کې تر ډېره هڅه شوې چې جامع او په علمي بڼه مالومات راټول شي، څو د یوې علمې سرچینې توګه ترې ګټه واخیستل شي لکه څرنګه چې د کره مالوماتو راټولونه ستونزمنه کړنه ده؛ خو په الهی نصرت سره بریالي شو، یاد آرمان ته ځان ورسوو. دا چې انسان خطا کار دی نو یادې نسخې کې به موږ هم ډېرې تېروتنې کړي وي د لومړنۍ تذکرې او د لومړني اثر په توګه د زیارکښو بخښنه ومنئ او د لا سمون په پار مو مرستو او نیکو پېرزوینو ته سترګې په لار یو. لکه څنګه چې دا د تذکرې لومړنۍ ټوک ده ګڼ شمېر نور درانه شاعران به پاتې وي، لومړي کې زموږ بخښنه ومنئ او ورپسې که خدای غوښتې وي په دویم ټوک کې به مو حتماً راونغاړو. د یادولو وړ ده چې ټولو ورونو، ښوونکو، ادب پالو او مخلصینو څخه لکه: د بغلان د ځوانانو یوالي ټولنه، د انګلستان هیواد کامبرج پوهنتون غړي افغان محصل ډاکټر وحید وطنیار، جمعه خان توخي، احسان الله درویش، عبدالخالق داور، محمد اشرف وطنیار، ګل الرحمان رحماني، نجیب الله پاڅون، محمد کریم ادیب، ناصر سروری او ګڼ شمېر نورو ښاغلو څخه یوه نړۍ مننه چې د کرکر ګلونو په غوړولو، ځلولو او لا سمونه کې یې مونږ سره شپه او ورځ نه ستړي کېدونکي مالي او ځاني هلې ځلې وکړې او خپل ارزښتناک وخت یې مونږ ته راکړ. الله (جل جلاله) دې د هغوي او ټولو مسلمانانو د نیکۍ پله د مېزان په تله کې درنه لري.

**په خورا ادب**

**عبدالمبین صافی**

**مرکزی بغلان**

(c) ketabton.com: The Digital Library





## محمد طاهرقلم دوست

محمد طاهر قلم دوست فرزند مرحوم محمد موسی نوه مرحوم بابا خان میباشد. وی در سال۱۳۲۱هـ.ش در ولسوالی قره باغ ولایت کابل در یک خانواده دیندار و روشنفکر چشم به جهان گشود.

موصوف با چالش های که فراه راه زنده گی وی قرار داشت، موفق به تعلیمات ثانوی و تحصیلات عالی نگردید. صرفاً توانست از سال ۱۳۳۴ هـ. ش الی ۱۳۴۰هـ.ش دوره ابتدائیه خویش را اتمام نماید.

قلم دوست نخستین شعر خود را در سال۱۳۹۳هـ.ش سراید، وی نابسامانی ها و بی عدالتی ها در سطح کشور را مسبب آغاز شاعری خویش میخواند، قلم دوست به دو زبان (پشتو و دری) شعر می سراید.

به تمامی شاعران جوان و شاعران کلاسیک علاقه دارد. قلم دوست در فعالیت فرهنگی و انجمن های ادبی در سطح بغلان مرکزی سهم فعال داشته و از اسمای زرین در این عرصه یاد میشود.

دو مجموعه شعری آماده به چاپ داشته که عنقریب بدسترس فرهنگ دوستان قرار خواهد گرفت. امنیت و آرامی در سطح کشور و کوشائی جوانان در بازسازی و عمران وطن از بزرگترین آرزو هایش یاد میکند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کلام

ما پــــرېږده د قلم سره تنـــها یوه شــــېبه
چه ولیکم غـــمونه د دنـــیا یـــــوه شېبه
دنیا کې خوښـــي نشته ټــول غمونه راورېږي
په غم کې به څوک څه کـــوي خندا یوه شېبه
آدم^(ع)په یو خطا باندې ســـل کـــاله ژړا وکړه
تا ونه کړه په زر گـــــــناه ژړا یـــــوه شېبه
غیبـت زمونږ د لوبې مجـــلس ښـه وسېله ده
تېرېږي نه پر مونـــــږه بې گنـــاه یوه شېبه
الله په امــــرو نهې بانـــدې څومره برابر یې
دا خپل وجدان قاضي کړه په رښتیا یوه شېبه
که وېره د محشر ولرې گـــوره قلـــــمدوسته
بیا هېڅـــکله نه گـــرځې بې پـــروا یوه شېبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

عالم همـــــه به  ماتـم ما گــــريه ميکند
بر حـال ما طــــيور هـــــــوا گريه ميکند
بر ياد هـر شـــهيد وطـــن تا به روز حشر
تا جـــاودانه ارض و سمــــا گريه ميکند
بر نعـــش آن جوان که دامـــاد می شده
مادر به هردو دســـت دعـا گريه ميکند
معصـوم کودکی که بجز يک پدر نداشت
وحشـــت زده بـــپای آبا گــــريه ميکند
آند دختريکه بخـــت سيـــاه بود نا اميد
در سوگ نامــــزد به خفا گــــريه ميکند
با هموطنان اســـت قلمـدوست غمشريک
زيرا کــــه به هـــمراه شمــا گريه ميکند

(c) ketabton.com: The Digital Library





## بـندي امـير جان (امـير جان بـنگي)

بندي امير جان چې وروسته يې په امير جان بنگي سره شهرت ومونده د سيد احمد جان زوی او د قاضي قاسم لمسی دی، په ۱۳۲۴ لمريز کال د تگاب ولسوالۍ د نوروزخېلو کلي کې فانۍ نړۍ ته سترگې غړولي دي.

نوموړي هيڅ رنگه تعليم او تحصيل په ښوونځي او يا هم پوهنتون کې ندي ترسره کړي، خو وايي څه نا څه ديني زده کړې يې د کلي په جومات کې ترسره کړي، بندي امير جان يو صوفي شاعر دی، د هېواد سپيڅلي جهاد موده کې د هـــېواد آزادي لپاره بندي شو، چې بندخونې کې په بندي امير جان يادېده، د وخت په تېرېدو سره يې نوم په بنگي اميرجان يا اميرجان بنگي سره شهرت پيدا کړ.

بندي وايي په ۱۳۵۹ لمريز کال د جهاد په موده کې يې يو ورځ کېسټ څخه د سردار شهداء امير حمزه (رض) کېسه اورېدله ترې متاثره شو او ناڅاپه يې حالت بدل شو او شاعري ته يې مخه کړه، غوښتل يې خپل د جهاد دوره د شعر په ژبه ووايي.

بنگي امير جان په اړه د حيرانتيا خبره دا ده چې نوموړی ليک او لوست نشي کولی خو په وينا يې خپل څه د پاسه زر ټوټې اشعار يې په ټوله توگه له ياده زده او هر وخت حاضر دی چې اورېدونکو ته يې واوروئ.

نوموړی په صوفيانه، عارفانه، انقلابي او وطن پاله بڼه اشعار وايي او همدارنگه رحمان بابا، عبدالباري جهاني او حافظ شېرازي يې د خوښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاعران دي. بندي یا بنګي ځينې ځينې وخت په ادبي مجلسونو کې هم ونډه اخلي او هېڅ ډول تکنالوژي سره آشنايي نلري او تر دا مهاله کوم چاپي اثر يې د ادب مينوالو په لاس کې نشته.

اناث طبقې ته اسلامي زده کړه، اسلامي حقوقو ورکړه او پلې کول، او اسلامي حجاب همدارنګه ګران هېواد کې سوله، آزادي او د جګړې پای يې ستره هيله ده.

## کلام

چې په غـم بانـــدې پيـــدا په غم پناه ده

زه پوښتنــــه کوم خلـــګو څـه بـــــلا ده

چې نه چا ځان سره يـــوړ نه به يې يوسي

د هر چا نه پـاتې شــــوې دا دنـــيا ده

مـحمـد عليـــه ســـلام له دنـــيا لاړو

وايـــه چاته وفـــا کـــړې دا دنـــيا ده

بيـــا څلور واړه يـــــاران لـــه دنيـــا لاړو

امير جان وايي خپل ژوند ته مې سودا ده

په هــر څه چې ستا رضــــا وي ذولجلاله

اميـر جان وايي رضــــا مې ستــا رضا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

خدایه څنگه زنـده گي شوه زمونږ وطن کې

د مرگي حکمراني شوه زمـــــونږ وطن کې

خپل صورت راته پردی پـــــردی ښکاريږي

خپل په کور مسافري شوه زمـــونږ وطن کې

یتیـــمان په کوڅـــو ژاړي امیــــر جانه

هم قحطي هم قـــیمتي شوه زمونږ وطن کې

زورورو ډېر کــــــمزورې نــوش جان کړل

خدایه اوس آدم خــوري شوه زمونږ وطن کې

ورور دې ورور ده لاســـــه مړ شو امیر جانه

کور په کور هم دشمني شــوه زمونږ وطن کې

ورور يې مـــړ کـړ مـــال يـې راوړ غنيمت

خدایه چور او راجوري شــوه زمونږ وطن کې

یو پر بل لــــشکر کشي شــــوه امیرجانه

تنظیمو بې اتـــــفاقي شوه زمونږ وطن کې

د وطـــــن تــور څنــې ژاړي بنــدي جانه

څومره گرانه زنده گي شوه زمونږ وطـــن کې

چې قـــدم په قـــــدم ځــــئ پکې مرگونه

خدایه څنگه مسلماني شوه زمـــونږ وطن کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





## غـایـب بورجـان

غایب بورجان د حاجی ملا تور زوی او د بورجان لمسی دی، چې په ۱۳۲۹ لمریز کال د مرکزي بغلان په نوروزک کلي په یوه دینداره کورنۍ کې زېږېدلی.

بورجان د مهاجرت په ژوند کې تر یوولسم ټولگي پورې زده کړې وکړې، خو د ژوند سختو ستونزو نورو گڼو هېوادوالو په شان ورته د زده کړو د دوام او بشپړتیا اجازه ورنکړه، نوموړي په کال ۱۳٦۷ لمریزکې شاعري ته مخه کړه، او په وینایې د ژوند ناخوالو او د زړه درد یې د شاعرۍ د پیل لامل و.

شاعر غایب بورجان اوس هم د لاس تڼاکو څخه ځان او کورنۍ ته حلال رزق گټي؛ خو احساس او عاطفه یې لا هم انقلابي او شاعرانه پاتې او پایي.

پښتو لرغوني ادب کې یې عبدالرحمان بابا او عبدالحمید مومند د خوښې شاعران دي. غایب بورجان د غزل په فورم کې اشعار لیکي. نوموړی لا تر اوسه چاپ کړي آثار نلري؛ خو د اشعارو ټولگه یې چاپ ته تیاره ده چې ډېر ژر به د درنو لوستونکو تر سترگو راووځي. د ادب او شاعرۍ په لوړه کچه پراختیا او په افغاني ټولنه کې شاعرانو ته د قدر په سترگه کتل یې تر ټولو ستر ارمان بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کلام

نه به ځمکه نه آسمـــان وي نه بـــه زه یـــم نه به ته يې

د ژوند څو ورځې دوران وي نه بـــــه زه یم نه به ته يې

نه خو پاتې انبیا شـــول هر څــــه خـــاورو لاندې شوي

تش لاســــــونه ترې روان وي نـــه به زه یم نه به ته يې

ربه ستــــا دا نعمتونه مونږ ناشکـــره بنـــــده ګان یو

تاته ښکته مو چشمان وي نه به زه یــــم نــه به ته يې

په امېد ددې دنیـــا مونـــــږ په اوږده ســـــفر روان یو

مـــرګ ناڅاپه به عیــــان وي نه به زه یـــم نه به ته يې

مونږ په غم کې د دنیا یو آخـــــرت مــــو دی هیر کړی

سود مو کم دی ډېر مو زیان وي نه به زه یم نه به ته يې

شپې او ورځې چی تېرېږي مونږ لنـــډېږو د مرګ خوا ته

اوس خوښې دی بیا خفګان وي نه بـــه زه یم نه به ته يې

نه خلاصېږو له اجلـــه که مـــو ډېـــر مال او دولت وي

وار په وار ســـــره روان یـــــو نه به زه یـــم نه به ته يې

تور لحد د وحشت ځای دی سر دې ښکته کړه ګریوان ته

بیا دې تیر ساعت ارمـــــــان وي نه به زه یم نه به ته يې

نه مو پښې د عبــــــادت دي نه لاســـــونه د سخـــا دي

(c) ketabton.com: The Digital Library




په هـر څه کې مـــو تاوان وي نه به زه يـــم نه به ته يې
ســوال ځـــواب د ميـــزان تله د سقر نه پـــنا غواړو
نېکي نشتـــــه ټول عصيـــان وي نه به زه يم نه به ته يې
اميــــد وار يی د رحمــــــت يو شفيع ته شې يا رســوله
دا غـــــايب په وېر د ځـــان وي نه به زه يم نه به ته يې

## انتظار ايستلی

ګرانه و تاته می په شپو شپــــو انتــــظار ايستــــلی
پخپله مـــا د زړه په مينـــــځ د مينې تار ايــــستلی
خوښـــه د چا ده چې د ښکلــــو صفـــتونه وکړي
ماخـــو په ټولو ښــــايستونو کې خپــل يار ايستلی
اوس به د لمر وړانګې زما بدن زخمـــي زخمي کړي
ظالم رقيب راته د ســيوري ها چـــــــنار ايستلی
جانان د لرې اشاره کـــړه لاس په لاس به ګـــــرځو
چی ور نږدې شوم له لستوڼې څخه يې مـار ايسـتلی
د بی وفا وو زړه په هېچا باندې نـه يخـــــــــېږي
بيايې د چـا د زړه ويشتـــــلو ته يې وار ايستـــــلی
کله وفا کله جفــــــا په دې زه ښــــه پـــوهېږم
خپل سر دې وخوري چې چا مينه کې دا کار ايستلی
په بدې ورځـــې می ته ښـــــه وپېژندلې آشنـــا
تا خو په ښه ورځې کــــې نوم د افتـــخار ايستلی
بـابـا به ولـــې پخپل کــــړي نيـــکي و نه ژاړې
په آخر عمـــر کې له کــــوره له اختيـــار ايستلی
په ناداری خو ښايسته غايــــب بـــدرنګه ښکاري
نن دنيا دار احمـــق سړی هر چا هـــوښيار ايستلی

(c) ketabton.com: The Digital Library





## جـمعه خـان توخـی

جمعه خان توخی د بازگل زوی او د محمد نور لمسی دی، چې په ۱۳۳۴ لمریز کال د توارېيو کلي په يوه روڼ آندې کورنۍ کې دنيا ته سترگې غړولي دي.

په ۱۳۵۳ لمريز کال کې د مرکزي بغلان عالی لېسې څخه فارغ او د کانکور آزموينې له لارې د بلخ عالي دارالمعلمين کې شامل شو او په ۱۳۵۹ لمريز کال کې له ياد ښونيز مرکز څخه د ښوونکي په توگه په لوړه درجه فارغ شوی دی.

توخي د ثور کرغېړنې کودتا د رامنځته کېدو له امله و نه توانېد چې لوړې زده کړې ترسره کړي.

استاد توخی د ۱۳۸۵ لمريز کال څخه راهيسې کله چې نوموړی په ښونځي کې د ښوونکي په توگه د هېواد بچيانو ته روزنه ورکوله د شعر عاطفه پرې غالبه شوه او شعر ليکلو ته يې مخه کړي، توخی وايي چې شعر ليکي؛ خو لا هم پدې نه پوهېږي چې په ليکلو بيتونو کې يې په کومه کچه عاطفه او احساسات شتون لرئ.

د توخي په اوسنيو شاعرانو کې د عبدالباري جهاني او پير محمد کاروان شعرونه او په کلاسيکو شاعرانو کې د رحمان بابا او خوشحال خان بابا آثار لولي او خوښوي يې .

استاد د بغلان ولايت په کچه گڼو فرهنگي او ادبي خوځښتونو کې فعاله ونډه اخيستې او د مرکزي بغلان د نوموتو ادب پالو په سر کې راځی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل يې ځوان شاعران هڅولي او په هر ډول شرايطو کې يې د ادب په بډاينه او غنا کې نه سترې کېدونکي هلې ځلې کړي او لا هم د ځوان شاعرانو لاسنيوي کوي، توخی ناچاپه آثار لري، خو د اقتصادي ستونزو له امله يې هېڅ ډول آثار تر دې دمه نه دي چاپ شوي .

توخی په خپل هېواد کې د استقلاليت او په ټولنه کې د نېکمرغه ژوند، هوساينې، خپلې ژبې او ټولنې ته د ادب په چاپېريال کې خدمت کول خپل ستر او يوازينی آرمان بولي.

## کلام

اوښکه اوښــکه لکه پرخه اورېـــدم زه

د گلانو په ســـرو شونـډو لوبېـدم زه

د بيلتون غــمو به سوی وي که نـه وي

د وصال له غـېـــږې لرې سوزېـــدم زه

دا مې څرنگه بې خونده زنده گــي شوه

يار له څنگه پټـې ستـــرگې تېرېـدم زه

زړه سوری سوری مې چاته ښودای نشم

د کباب غوندې سکروټو کړېـــــدم زه

په اخلاص دې آشنا مينه ښکاره نـــکړه

په مينه يې توخي خوشې غولېـــــدم زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

ډېره موده وشـــوه رڼا ورکـــه ده له کـــلي
تیـارو کې ژونـد کړو سبـــا ورکه ده له کلي

ژونـدون ګــران شو ډېر کـــلونه راتـه غم جوړ
توبـه لــه بــې حیاوو حیـــا ورکه ده له کـــلي

د آرمـــان دردو مې زړه تــه غـاړه کېـــښوه
لکه چـــې بیا تــرې دوا ورکــه ده لـــــه کلي

هر ستـــوري چې ګورمـــه رڼـایې پیکــه شوې
په شنـــه آسمان کې ښـــکلا ورکه ده لــه کلي


د زور واکـــی حـــــکم فــرمان پکــې چلېږي
محــراب منـــــبر نه رښتـیا ورکـه ده له کلي

چېــرته چـــې زه لاړم هلتـــه وېرغــم ژړا ګانې
افسوس زمونږ هېواد کې خندا ورکه ده له کلي

غمخور د توخي نشـــته اوس یوائې پاتې شوی
اوس ستا حق کې مــــــور دعا ورکه ده له کلي

(c) ketabton.com: The Digital Library





## ضیـا الـحق نـگهت

استاد ضیاالحق نگهت فرزند عبدالحبیب نوه عبدالخالق بوده، در سال ۱۳۳۹هـ.ش در شهر بغلان صنعتی ولایت بغلان در یک خانوادۀ مجاهد از عدم پا به هستی نهاد.

وی در سال ۱۳۵۴هـ. ش به سرایش شعر رو آورد، بعد از نابسامانی ها در سطح کشور به جهاد مسلحانه پرداخت و بعد از پیروزی مجاهدین دوباره به ادامۀ تعلیم اش برگشت، که در سال ۱۳۷٦ه. ش از لیسۀ بغلان صنعتی موفقانه فارغ گردید.

با سپری نمودن آزمون کانکور به یکی از پوهنځی های پوهنتون ولایت بلخ راه یافت، ولی موفق به خواندن آن نشد، فرجام با کسب شغل معلمی در رشته ادبیات وارد تربیه معلم ولایت بغلان گردید. که با استعداد خدا داد اش در راستا سرایش شعر بزودی مورد توجه همه گان قرار گرفت.

استاد نگهت در انجمن های ادبی بسطح بغلان مرکزی و ولایت بغلان اشتراک ورزیده، نامبرده در قالب های غزل، اشعار حماسی و عارفانه می سراید.

صلح و آرامی، نهادینه شدن تعلیم و تربیه در جامعۀ افغانی آرزوی بزرگ استاد نگهت میباشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کلام

ای صلح محترم به ملکـــم سفـــــر بکن
دیگــــــر ز حــــادثات مرا بــــیخطر بکن
مـن درخت نامراد نه چیدم ز میــــوه اش
ای باغ نو نــــهال به ما هم ثــــــمر بکن
من طفـــلکم مـــــدار ز مــــادر مرا جدا
و این ناز در دل اســــت مرا با پـــدر بکن
آرمان خواهــرم که باشـــــد ز علم و فن
بـــر قسمت باورم به او مـــــــیسر بکن
ای مایـــه نشاط به هر نســــل این زمان
از سایه های خویش به مـا یک قـــدر بکن
هرجا کــه پای تست همانجـاست زندگی
در ملک ما بیــا کمی زیــــــب و فر بکن
در گـــوش ناکسان چی خوانی سرود صلح
نگـهت ز فهم خویش بر آن یک اثـــر بکن

(c) ketabton.com: The Digital Library



## برهان

چه سانــم میکنید تعبیر اگــر عاشق نمی خوانید
به پایم چیست این زنجیر اگر عـاشق نمی خوانید
ز عمر رفته ام دیگــــــر چه آرم بهــــرتان برهان
زنید مشتی بر این ره گیر اگر عاشق نمــی خوانید
اگر نوفل شمــا یانید برای قیـــس و لیــــلا دور
مسازید بی حدم تحـــقیر اگر عاشق نمی خوانید
ز بیت بی سخن گفتـــــم به هرکه حسب احوالم
ز حالم پس کنید تحریـــر اگر عاشق نمی خوانید
آر گویم غم کوهیســـت بر روی دل چو هندوکش
مگــو البـــرز یا پامیر اگر عاشـــق نمی خوانید
دریـن دنیـــا مثـــال مـن نـــباشد عاشق کهنه
مخند بر عاشـــق کم پیـر اگر عاشق نمی خوانید
مشـــکار یـک محـبت را بستـــــند بر کمند غم
ز نگـــهت مشـــو روگیر اگر عاشـق نمی خوانید

(c) ketabton.com: The Digital Library





## عـبدالـخالـق داور

عبدالخالق داور فرزند مرحوم الحاج محمد راضی و نوه عبدالعزیز میباشد. وی در سال ۱۳۴۰ هـ. ش در یک خانواده روشنفکر مقیم بغلان مرکزی دیده به جهان گشود. داور بعد از اتمام دوره مکتب در سال ۱۳۵۹هـ.ش مدرک بکلوریا خویش را بدست آورد. عبدالخالق داور در جریان روزهای سیاه و جنگ های خانه مان سوز موفق به ادامه تحصیلات عالی نگردید. و بعد از وقفه طولانی شامل موسسۀ تحصیلات عالی شده سند لیسانس خویش را بدست آورد.

موصوف از ایام نوجوانی به شعر و شاعری علاقه مند بود و ضمن مطالعه دواوین شعرای بزرگ ادب گاه ناگاه خود نیز شعر میسراید که هنوز هم به عهدی که بسته پایده.

داور مشتاق شعرای بزرگ کلاسیک همچو رودکی، فردوسی، سنائی، عطار، مولانا، حافظ، صائب و سعدی بوده و همچنان دوستدار شاعران متجد و معاصر نو پرداز عرصه ادب فارسی چون سهراب سپهری، نادر نادرپور، شاملو، ایرج میرزا و دیگران میباشد.

عبدالخالق داور سرآهنگ شاعران صاحب صلابت در سطح بغلان مرکزی بوده و همواره کوشیده است تا دستگیر نسل جوان این سرزمین در عرصه علم و ادب باشد. داور در انجمن های ادبی در سطح زادگاه خویش سهم بارز و فعال داشته و همچنان در انجمن ها و همایش های ادبی به خارج ولایت نیز سفر های در کارنامه دارد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وی اشعار متفرق سروده تا به حال کدام اثر به اقبال چاپ یافته ندارد. صلح برای کافه بشریت و آسودگی ملل اسلام از بزرگترین آرزوهایش در زندگی میباشد.

## بخت بسته

بخت مجموع وطن والله و باالله بـــسته است

بخت فال انداز و مولانا و مــــــلا بسته است

بخت بازان خود سیه بختانِ بخـــتِ خود بَود

بخت خود را ناگشوده بخت مـا را بسته است

ریزه گل در نامزدیِ شـاککو جــــان گفته بود
طالع خاتــون و اقبـــالِ زلـــــیخا بسته است

یاد مــی آیــد مـــا زان بخــــت بازانِ قدیم

گفته بود بر والدم بختِ شمـــا ها بسته است

طفل همسایه به جای خویش مــیشاشید شب

گفت آخوندِ محل کودک سراپا بــــسته است

میـــــدهــم تعویض زیر نافش آویـــــزان کنید

تاببینید شب، که او را تا کجا ها بســـته است

طفل قصه شب دو چندان شاش بر بسته نمود

صبح مادر دیــد بر تعویض دریا بستـــه است

کوکـــب مـا و تو را داور ز حکـــمت کردگار

از حضـــیضِ خاک تا اوج ثـــریا بسته است

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بی واسطه

بی واسطـــه مدیـــــر به دفـــتر نمیشوی
زیبـــا نبـــاشی هیـــــچ ســـکرتر نمیشوی
بی روز و زر به فـــکر کتـــابت مبـــاش چو
مفلـــس خوشـــال باشـــی مـــقرر نمیشوی
نشناســـــی گـــر وکیل و وزیـــــر و ریس را
چپراستـــــی هـــم به مـــدرک ماستر نمیشوی
گر واسطـــــه چـــو ماگـــل و شاگـــل نباشدت
مستخـــــدم ادارهٔ کشـــــــــور نمـــــشوی
رشوت نخوردی دست ز چوکـی شوی دوست
تقسیم اگـــــر نکـــــردی کـــــلانتر نیمشوی
بی چاپلوسی هـــم به مـــــقامی نمـــی رسی
بی چـــرخه گیری نـــوکر و چـــــاکر نیمشوی
قانون و عــــدل پیشه کنی دوپــــــه میشوی
جـــــایداد دار و مالـــــک مـــــوتر نمیشوی
مفــت است شعـــارِ کار سپـــــردن به اهل کار
جانـــــــم از ایـــن دروغ و دَرَم کـــر نمیشوی
داری اگـــــر صـــــــفات و کمـــــالات فوق را
بـــــدبخت مثـــل خالـــــــــقِ داور نمیشوی

(c) ketabton.com: The Digital Library





## محمد وسیم مومند

محمد وسیم مومند د عبدالحکیم مومند زوی او میرزا سید کریم خان مومند لمسی دی، په ۱۳۴۵ لمریز کال د مرکزي بغلان دولسم سړک کې زېږېدلی دی.
مومند په ۱۳۵۰ لمریز کال په بغلان صنعتي لیسې کې لومړنۍ زده کړې پیل او د ۱۳٦۱ لمریز کال کې ترې فارغ شو او د ټولنیزو علومو په څانګه کې یې د ازبکستان هېواد مرکز تاشکند کې خپلې لوړې زده کړې بشپړې کړې.
د نن څخه شل کاله پخوا یې د هجرت په موده کې شاعرۍ ته مخه کړې چې اوس مهال د کلاسیک غزل په فورم اشعار لیکي.
په اوسني شاعرانو کې یې پیر محمد کاروان او پخواني شاعرانو کې یې حمید ماشوخېل او حمزه شینواری د خوښې وړ شاعران دي او په تصوفي شاعرانو کې د رحمان بابا کلک مینوال دی.
محمد وسیم مومند خپل ټاټوبي کې د ادب پالو سرلارویانو کې راځي او تل یې هڅه کړې تر څو خپل ځوان شاعران او ځوان نسل شاعري ته وهڅوي.
تر دا مهاله کوم چاپي اثر نلري او یوه شعري ټولګه یې د (واورینه) په نوم یې چاپ ته تیاره ده.
په ګران هېواد افغانستان کې تلپاتې سوله یې ستره هیله او آرمان ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کلام

زمـا د ژونـــــد دې ښکلا ګانو ډېوې
ته لـږ زمـــا د زړه په کور کې تم شه
زمـــا د زړه نــه بـــــهر مه وزه ته
راته هم ننـګو هم په پیغور کې تم شه
ته هم ریدي نه هـــم سنځل شه راته
ته هم زما د سترګــــو تور کې تم شه
د منې ګل زمــــونږ د پیــغلو ښایست
درسره راوړه پـــــدې لور کـــې تم شه
ګل د نارنـــــج د ښـــاپېرو په څـــنو
ته دې اتڼــن په شـــرو شور کې تم شـه
زما د پېــــــغلې غرځنې په تـــــــرپا
ته د فـــطرت به دغه زور کې تم شـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

ياغي خــــويونــه دې په باز د تخـــيل رانيسم
تابه کړم رامـــه په دانـــه د عاشـــقۍ جانانه
ته شه او زه شـم سره دواړه د سپين غر په لورې
طبابت وکـړو د بيـــمارې غرڅنـــــۍ جانانه
تا به  کړم مېره د خوبــــانو که هېواد ته راشې
په دواړو لاســو به ســــلام کړې جنکۍ جانانه
ستا د وجود خوله ده پـرخه، پرخـه، پرخه په ګل
هم دې عطرونه هم دې راز د زنـــده ګۍ جانانه
خلک به عمر تــــېروي د بادشاهـــي په محل
دواړه خوشحال يــــو په ژوندون د غريبۍ جانانه
چې  تربګني کې د ســـپوږمۍ نه پاتې نشي ګلې
درته به جوړه کړم د ستـــــورو غاړه کۍ جانانه
مينه په سوله کې، ژوند سوله کې، جانان سوله کې
وسيم ته، ته يې هم درخـو هــــم شيرينۍ جانانه

(c) ketabton.com: The Digital Library





## ذکـر الله ملـنگ

ذکر الله ملنگ د مرحوم الحاج عبدالاحد زوی په ۱۳۵۰ لمریز کال کې د بغلان ولایت پلخمري ولسوالۍ د ساقي ملایانو کلي کې نړۍ ته سترگې غړولي دي، نوموړی په قوم عرب، په قبیله انصار دی او یوې دینداره او عالمې کورنۍ سره تړاو لري.

ملنگ خپلې لومړنۍ زده کړې د سیدجماالدین افغان ښونځي کې پیل؛ خو وروسته د کورنیو ناخوالو له امله هېواد څخه بهر مهاجر شو او پاتې ثانوی زده کړې یې په بېلابېلو دیني او خصوصي مدارسو کې په لوړه درجه بشپړې کړې، چې اوس لپاره د فوق بکلوریا سند په لاس لري.

ملنگ اوس مهال د افغان سید جماالدین په ثانوی ښونځۍ کې د ښوونکي په توگه دنده پرمخ وړي، چې تر څنگ یې یو ځایی جومات کې د امامت سپیڅلي وجیبه هم په غاړه لري.

ذکرالله ملنگ په ۱۳۸۰ لمریز کال کې شاعري ته مخه کړه چې تر دا مهاله په تصوفي، حماسي او داسې نورو ژانرونو کې اشعار لیکي.

د پښتو ادب ستر نامتو عبدالرحمان بابا یې د کلاسیک دورې او عبدالباري جهاني یې په معاصره دوره کې د خوښې شاعران بولي.

ذکرالله ملنگ د هېواد او خپل ټاټوبي(بغلان ولایت) په کچه تل ادبي خوځښتونو او بهیرونو کې فعاله ونډه اخیستې چې د نارنج گل، کونړسیند، ریدي گل، بلخ او کابل مشاعرو کې د بغلان ادب پالو څخه استازیتوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، یاده دې وي چې ملنګ د اشعارو ټولګه چاپ ته تیاره ده؛ خو د اقتصادي بی وسۍ له امله لا تر اوسه نه ده چاپ شوی.
د یووالي غږ اوچتول، ځوان نسل ښوونې او روزنې ته هڅول، په هېواد کې ډاډمنه سوله، آرامي او سوکالي یې ستره هیله او آرمان ګڼي.

## کلام

په رڼا ورځ کې یو څو ستـــوري د آسمـــان لټوم
د رقیبانو په کـــــوڅه کې مـــې جانان لـــټوم
دا ستا په مینه کې رنګ شوی تردې ځـــایه یمه
د قافلو سره ملګری شــــــوم کــــنعــان لټوم
چې سپېناوی یې لوی ښتن په ماشومـانو کوي
داسې دوسې داسې بندي داســـې زندان لټوم
ورزمه نېسم د آسمـــــــان لمنې نـــن سـبا کې
یو څو للمۍ مړاوو غــــــوټویو تـــه باران لټوم
نن مې هوډ کړی مخــامخ یې دروازې ټـــــکوم
د عملونو په هېنـــــداره کې مې ځـــــــان لټوم
بیایې په تنده لهجه زوړند سترګو غلــې غــــلي
د هر سایل خاموش ځواب ته مې وجـــدان لټوم
ملنګه بیـــا نیمـــه شپه کې دا ړانده توغـــندي
هر یو په جـــار وایي ســـاقي کې ملایـــان لټوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نظم

سولې نوم سره آشنا دې یمه
ستا د راتلو لاس په دعا دې یمه
خو کله ؟
هلته چې هر څوک خپل جېبونه ډک کړي
هلته چې هر څوک چور چپاو ته لاس کړي
هلته چې هر څوک حق نا حقه وبولي
هلته:
چې ظلم د ظالم ته عدالت ووایم
او پر مظلوم تېری انصاف وګڼم
بیا:
ستا راتلو ته ضرورت نه لرم
تور سر مې سپین شو پکې
زړګې مې شین شو ترینه
سولې منم:
چې ته راشې آرامي راولې
دلته او هلته سوکالي راولې
پس له خزانه پر موږ نوی پسرلی راولې
سولې چې راشې پیوستون به راشي
د هر مظلوم زړه ته سکون به راشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما و تاته نوی سباوون به راشي

بیا بدي نشته مؤسسې نشته دي

یو بل ته جوړې دسیسې نشته دي

چې یی ښکاره او پټې راکړې سرې پیسې نشته دي

ګټه مې نشته پکې :

زه او ته ډېر یو سره لرې سولې

ته آرامي راولې

زه ګډوډي خوښوم

ته د وحدت زیری یې

زه ځانځاني خوښوم

ته خو پوهېږې ګرانې:

دا چې بې موره یمه


بی پلاره و وروره یمه

دا چې راغلی له کوم لوري یمه

دا خو منې چې د یتیم ګټه په څه شي کې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library





## شکرالله خوشحال صافی

شکرالله خوشحال صافی د عبدالغني صافي زوی د ملاحسام الدين صافي لمسی دی، په ۱۳۵۱ لمريز کال د لړم مياشت په دولسمه نېټه د مرکزي بغلان د زاړه ښار د کابليانو کلي په يوه ديندراه او عالمه کورنۍ کې زېږېدلی دی.
نوموړي خپلې لومړنۍ زده کړې د جميعت ابو بورجا ښونځي کې پيل کړې، وروسته د ژوند ناخوالو سره لاس او ګرېوان شو چې د مهاجرت لاره يې خپله کړه، د مهاجرت په دوران کې يې د ښونځۍ دوره پای ته ورسوله او ورسره جوخت د الهی کلام د حفظ ستر نعمت يې هم په برخه شو.
خوشحال صافی په ۱۳۸۲لمريز کال کې شاعري ته مخه کړه چې په دوه ژبو (پښتو او دري) صوفيانه، طنزي، حماسي، عشقي او انقلابي اشعار ليکي.
خو لا تراوسه کوم چاپ شوی کتاب نلري.
نوموړی د مسلمه امت لپاره تر ډېره امام پاتې شوی او ورسره يې ادبي مشاعرو او بهيرنو کې تل برخه اخيستې چې په خپلو غوره شعرونو يې د خلکو ادبي تنده خړوبه کړې ده. او نوم يې په روښانه توګه ثابت ساتلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نظم

معلم د جامعې غمخور دی
معلم څراغ د هر يو کور دی
معلم مو کلي ته رڼا راولي
معلم مو زړونو ته برېښنا راولي
معلم دی دغه چې تيارې ورکوي
محبت مينه او صفا راولي
دا د معلم د علم شور دی
معلم څراغ د هر يو کور دی
معلم رينبتنی، ښکلی ځوان دی
معلم سبب زموږ د عرفان دی
معلم بهتر له هر انسان دی
معلم تل هر چا لره ګران دی
معلم زموږ د سترګو تور دی
معلم څراغ د هر يو کور دی
معلم چې موږ لره تعليم راکوي
زده کړه د فن او هم د دين راکوي
نجات له لارې د ضالين راکوي
په ښو افعالو آفرين راکوي
پرمختګ هم د معلم زور دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلم څراغ د هر يو کور دی
دا خو معلم دی ډېر حکمت چې لري
په درس جهان کې ښه عزت چه لري
سولې و امنيت سره شفقت چې لري
تل ورکول د جهالت چې لري
معلم په حق زموږ غخمور دی
معلم څراغ د هر يو کور دی
معلم غمخوار زموږ په رښتيا دی
علم زده کړې ترې هر چا دی
قدر يی د هر چا نه بالا دی
وړ د رحمت د کبريا دی
د هر ټپي د زړه ټکور دی
معلم څراغ د هر يو کور دی
معلم طبيب دی ښه دوا لري
د جهل درد لره شفا لري
مرام مدام د رب رضا لري
پټۍ د هر زخم ناسور دی
معلم څراغ د هر يو کور دی
معلم رهبر په دوو جهانو دی
صفت يې کړی عالمانو دی
قدر يې کړی زموږ لويانو دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم مو کوچنی هم مو ځوانانو دی
خوشحاله جهل لوی پېغور دی
معلم څراغ د هر یو کور دی

***

همېشه له مینـــې مینـــه پیدا کېږي
پــت عزت واړه له دینــــه پیدا کېږي
چا لېدلي چې په زهــــرو کې شـــفا وي
نیک عمل له ښه سړینـــه پـــیدا کېږي
که څـوک غواړي پرمختــــک په دنیا
پرمختــــګ له یووالــي نـه پیدا کېږي
که څوک غواړي صفا یې رسم و رواج کې
د پاک اسلام بیــــوګرافي نه پیدا کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library





## عبدالـروف وافـی

عبدالروف وافی فرزند مرحوم صوفی عبدالرزاق و نوه میرزا بای میباشد. که در سال ۱۳۵۴ هـ.ش در یک خانواده علم پرور دیده به جهان گشود.
نامبرده به تعقیب دروس دینی پرداخته و علوم عصری را نیاموخته است.
استاد وافی با توجه به شوق و علاقه یی که به مطالعه اشعار داشت خود نیز در سال ۱۳۸۵ هـ .ش به سرودن شعر رو آورد و در قالب های غزل، دوبیتی و رباعی اشعار ناب میسراید.
عبدالرزاق فانی، عبدالقهار فانی و عبدالعفیف باختری از شاعران مورد علاقه وافی میباشد.
وافی در انجمن های ادبی و مشاعره یی مطرح در سطح زاده گاه خود و بیرون از ولایت اشتراک ورزیده و از جمله شاعران مطرح در سطح بغلان مرکزی میباشد، که تا الحال دو جلد اثر مجموعی شعری اش آماده چاپ بوده و عنقریب بدسترس خوانندگان گرامی قرار خواهد گرفت.
اتحاد، اتفاق و مسلمان زیستن جامعه و جوانان اسلامی از آرمان های بزرگ استاد وافی میباشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کلام

یک عمر بوده وافیی بغـــلان تان رفیق
با ســـوژه های غمزده مهـمان تان رفیق
چیزی نبوده شعر من و ســـــوژهای من
جز کوله بار اشــک به چشمـان تان رفیق
یعنی تمام عمر سر غــم بوده ایم و بس
افــــزوده ام به درد فـــراوان تان رفیق
با تیغ شعر یاسی کـه دارد به دست خود
کوبیده ام به سینـــه بریـــان تان رفیق
با این مچاله های پـــر از درد و رنج وغم
پاشیده ام خزانـــه ای اذهـــان تان رفیق
باری نکـــرده ام بـــه نخ چامـــه امید
قصد رفـوی چـــاک گـریبـــان تان رفیق
جز شعر غـــم نمیشـود انشـــا به راحتی
از شاعر ستـــم کـــش دوران تـــان رفیق

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

تا در آغــوش خیـالات تو مـن گم میـشوم
مثل دریای پر از شـــور تـلاطـم مـیشوم
تا که در یک گوشه تنـها میشوم با یادهات
فارغ از برنامه های پـوچ مــــردم میشوم
باورم کن بی رخت در شهر یا در کشت زار
وارد گـــودال ســـوزان جهنـــم میشوم
بی تو خاموشم بی شعـــرم تندیســم ولی
باتو پـــر از شورو شعـــر و ترنم میشــوم
تا نگاهی با ســلام مستعار از کنج چشـــم
میکنی استــاده ســر تا پا علیکم مــیشوم

(c) ketabton.com: The Digital Library





## احسان الله درویش

احسان الله درویش د عبدالله زوی او د مرحوم حاجي ګلخان لمسی دی. په ۱۳۵۵ لمریز کال د بغلان ولایت د مرکزي بغلان ولسوالۍ کې په یوه دینداره او علم دوسته کورنۍ کې زیږېدلی دی.

درویش په ۱۳۶۸ لمریز کال د پېښور ښار په ښونځیو کې خپل لومړنۍ زده کړې پیل او په ۱۳۷۹ لمریز کال کې د اسلام آباد ښار یو ځایی ښونځۍ څخه د فراغت لیک ترلاسه کړ. او ۱۳۸۲ تر ۱۳۸۶ کال پورې یې د پاکستان هېواد اسلامي پوهنتون د اقتصاد او کمپیوټر څانګو کې لوړې زده کړې ترسره کړې. چې خوا کې سپورټي فعالیتونه هم کول او پخپله یې د تکواند څانګه کې استاد پاتې شوی دی.

د حمزه بابا د غزل لوست او اغېز اړ کړ، چې درویش هم شاعري ته مخه کړي او په ۱۳۷۷ کال کې یې خپل لومړی شعر ولیکه، چې اوسمهال غزلونه او ګڼ شمېر حماسي او اصلاحي شعرونه لیکي.

درویش دراني او حمزه بابا یې تر ټولو د خوښې شاعران دي.

احسان الله درویش خپل ټاټوبي (بغلان) کې نامتو او د هېواد په کچه له تکړه ادب پالو څخه شمېرل کېږي، چې په حماسي او انقلابي مرۍ یې ځانته خورا ډېر مېنوال موندلي دي او تل یې ادبي خوځښتونو او مشاعرو کې رغنده ونډه اخیستې او د بنسټیز کېدو هڅې هم ورڅخه ندي سپمولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوموړی تر دا مهاله کوم چاپي اثر نلري خو د اشعارو لکه: ستا يمه زه، د کاڼو ور،د ازغو ګرېوان،طالبه ګرانه او ګڼ نور کتابونه يې چې څه د پاسه لس ټوکو ته رسېږي چاپ ته تيار دي.

ولس ته کار کول، د پښتنو يووالي او ځوان نسل ته هراړخيزې زده کړې يې لوی آرمان او ستره هيله ده.

## کــلام

هر سـوال ته يې کولې چې ځواب خبرې
ازغـي سره چې وکړلې ګــلاب خبرې
نن زما د زړه حــرم کې له عـــادته مخالف يې
کــېدلې د ثـــوابو عـــذاب خبرې
له اوره د ښــــکلا ځکه مېـــلونه لــرې ګرځم
ځيګر مې اورېدلي دې کــباب کبــاب خبرې
اخ بيـــا د تخيل حـــورو تر هــغه ځايه بوتلم
د حـــسن انتهاء وکړې کــتاب کتـاب خبرې
په شوکه کې به څنګه مرغاوۍ زړه ترېنه ساتم
چې برند نظر د يار کوي عقاب عـــقاب خبرې
زما يې تلــوسه لا د لوستـــلو کړله ځـــــوانه
د مخ قرآن دې وکړې چې حجاب حجاب خبرې
موجونه به ياغي باغـي درويــــشه راژوندي کا
د اوښکو تسلسل مې کړې درياب درياب خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

په تاخت و تاز کې تیر شولــې هلمنده زما ژونده
غلیــم ته ګورستان شولــې مـــــیونده زما ژونده
له هیـلو ځنې لوی یو کتابتون دی میراث پرېښود
آرمـان کې ځوانیمرګ لوی شولې ژونده زما ژونده
د هجر ناکردي چې مې پر زړه بانــدې کړې تېرې
د زهـرو له ترخـو ډک شولـــــې خـونده زما ژونده
د لـرې او د برې په واده کـې چــې شاهـــــــد وم
ټوټـه ټوټه یوځـــــای شـولې پیـــــــونده زما ژونده
شـي ځانګه چې ګلــــونو ته تر ځمکې پورې ټيټه
چې ستــــــونزو ته تکـیه شولې مړونده زما ژونـده
نیک فال باندې تصمـــــیم د فلک څه نیسې پخپله
نیکبخته سرګردانـــــــه شــــولې ژرنده زما ژونده
شوې سپینې تورې ټولې د تـــقدیرورباندې تېرې
د دوه ژامو ترمینځه شولې شخــــــونده زما ژونده
درویش دې سل کلن هجر د زړه په ځمـــکه تېر کړ
د زغم او غم سمبول شولې ډېـــــــورنده زما ژونده

(c) ketabton.com: The Digital Library





## بـریالی مـشتاق

محمد صابر مشهور به بریالی مشتاق فرزند محمد طاهر و نوه محمد موسی بوده که در سال ۱۳۵۵هـ. ش در بغلان مرکزی ولایت بغلان از عدم پا به هستی نهاد.

مشتاق در سال ۱۳۶۵ هـ. ش وارد لیسه عالی بغلان مرکزی شد و در سال ۱۳۷۷هـ.ش از لیسه مذکور موفقانه فارغ گردید. که روزگار تا این دم برایش اجازه تحصیلات عالی نداده است.

مشتاق با شوق وعلاقه که نسبت به ادب و اشعار داشت در سال ۱۳۸۵ هـ.ش خود نیز به شاعری رو آورد و در فورم غزل به دو زبان ملی کشور(پشتو و دری) شعر میسراید.

مشتاق اغلباً در انجمن های ادبی و جریانات فرهنگی در سطح زاد گاه خود اشتراک میورزد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کلام

آئین در نگـــــاه تو ام دیـن میشود
برگشت ناپـــــذیر چو آئـین میشود
آشفتگی حـــــال من و درد روزگار
با یک سلام مفت تو تسکین میشود
در پرتو زیبائی اشـــــعار دل کشت
احساسم از خیال تو تمکین میشود

***

الله دې گل کړه خو چې عمر دې د گــله مشه
چنار ځواني دې هم تل پاتې شــه بـــــدله مشه
مونږه ســـاده یو په ساده ژبـــه ســـــاینه کوو
ټوله دنیا دې ستـا ښایست ســره هېڅکله مشه
اجل دې شــل شي چــې تر تا پورې رسېـږي کله
مرگي دې ومــري چې مې مینه ځوانیمرگه مشه

(c) ketabton.com: The Digital Library





## عـبدالـکریم جـاوید

عبدالکریم جاوید فرزند محمد قاسم نوه خیرالله میباشد. وی که از قبیله ناصری بوده در سال ۱۳۶۰هـ.ش در ولایت کابل دیده به جهان گشود.

جاوید جوان پرتلاش در سطح بغلان مرکزی شمرده میشود، الی سطح فوق بکلوریا تعلیم نموده است.

نسبت شوق و علاقه که به شعر و ادب داشته در سال ۱۳۸۷هـ.ش به سرایش شعر رو آورده است. و در قالب های شعری غزل، رباعی، دوبیتی، مخمس و سپید شعر می سراید.

بیدل دهلوی، حافظ شیرازی، مولانا جلال الدین محمد بلخی و علامه اقبال لاهوری از شاعران دلخواه ومورد پسند وی میباشد.

عبدالکریم جاوید در انجمن های ادبی در سطح بغلان مرکزی بطور مداوم اشـتراک ورزیده و از جمله سر آهنگان این مرز و بــوم در همایش های ادبی و فرهنگی به حســاب میرود. اثر آمـاده به چـاپ تحــت نــام (چکیده های اشک) داشته که عنقریب به دسترس تشنه گان ادب قرار خواهد گرفت.

آرامی کشور و زندگی مملو از علم و عرفان از آرزو های والای موصوف میباشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کلام

عشق در اندیشه ام پهلو نــــدارد بعــد از این
زنده گی ام هیچ رنگ و بو ندارد بعـــد از این
می روی از دهکـــده شوق سفـــر تا مـــیکنی
عاشق بدبخـــــت تو دلجو ندارد بعــد از این
چار سو تاریک تر از شب به چشمـــم می رسد
دیـــده ام با روشنایی خو ندارد بعـــد از این
اینکه رُخ از مـــن گـــرفتی و رهایـــم کرده ای
خاطرات قلـــــب من از تو ندارد بعــد از ایــن
بی تو و بی هیچ رنگی عشـــق حتا بــی صــدا
می رسد مرگی که سمت و سو ندارد بعد از این

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

سر تا سری دیار مرا غـــــم سر غـــم است
هر روز روز کشتـن و هر لــحظه ماتـــم است
آهسته تر قـــدم بگـــذار ای عـــزیز دل
اینجا مزار شبنـــم و گل های مریـــم است
ما جمله مرده ایم و به خود گریه مـــی کنیم
هر سینه زخم خورده و هر دیده پرنـــم است
می خفته و تو خفته و این شهر خفتـــه است
دیگر میـــــان ما چه نشانی ز آدم اســـت؟
اینجا بهشت نیست نه سودای جـــنت است
سوزند ما به رسمی، که اینجا جهـــــنم است
آری! که نوک خامه یی مـــن گریه مــــی کند
از بــس که شان غیرت و مردیی ما کــم است

(c) ketabton.com: The Digital Library





## بسم الله شریفی

بسم الله شریفی فرزند حاجی محمد شریف نوه استاد میرزا میباشد. وی در سال ۱۳٦۳هـ.ش در یک خانواده متدین و دیندوست چشم به جهان گشود، آیام کودکی خویش را در دیار آبایی خود (بغلان مرکزی) گذارنیده است.

شریفی نخستین قدم در عرصه علم را در سال ۱۳۷۰هـ. ش برداشت و شامل در یکی از مکاتب بغلان مرکزی گردید، که در سال ۱۳۸۴هـ.ش موفقانه از مکتب لیسه عالی بغلان مرکزی سند فراغت بدست آورد. جوان پرتلاش بعد از سپری نمودن آزمون کانکور در سال ۱۳۸٦هـ.ش به رشته دلخواه خویش پوهنځی شرعیات پوهنتون ولایت بلخ شهر مزارشریف راه یافت، و در اواخر سال ۱۳۸۸هـ.ش مدرک لیسانس را از رشته مذکور بدست گرفت. شریفی با توجه به علاقه که نسبت به دین و علم داشت راه خود را پیموده و در فرا راه سفر علمی اش در بخش حقوق بین المللی سند ماستری را حاصل کرد.

شریفی در اجتماع زندگانی عشق به شعر و ادب داشت و متاثر از آبیات بزرگان ادب بود، فرجام خود نیز در ۱۳۸۳هـ.ش آغاز به شاعری کرد. نامبرده در قالب های مختلف همچو غزل، دوبتی، رباعی، سپیده، غزل و مثنوی اشعار میسراید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موصوف مشتاق شاعران جوان محتوا محور بوده و به بزرگان شعر و ادب احترام خاصی دارد همه را گوهر ادبیات سخن میداند.

مذکور یک تن از مخلصین علم و ادب در سطح بغلان مرکزی پنداشته میشود. همواره کوشیده است تا برای نسل جوان فرصت های علمی و فرهنگی را مهیا سازد. چاپ و نشر اخبار ( هفته نامه عقاب، سبزمنش و سایت خبرگزاری عقاب) مشمول فعالیت های فرهنگی اش بوده. آقای شریفی در انجمن ها و برنامه های بزرگ فرهنگی به سطح کشور و خارج از کشور همچو کشور های تاجکستان و ایران اشتراک ورزیده است.

شریفی تا الحال ۱۴ جلد کتاب به چاپ رسیده و ۱۵ جلد اثر به چاپ نرسیده در کار نامه دارد.

اخوت اسلامی در پرتو ارزشهای پذیرفته شده فرهنگی و تمدن از آرزو های بزرگ بسم الله شریفی میباشد.

**بوسه باران**

با غزل چـشمان مستت بـوسه باران می کنم

از مخمس تا رباعی را هـــــزاران می کنم

از مســــدس می نوازم تارِ مـــــژگان ترا

بال پـــــرواز دوبـــیتی را چراغان می کنم

از قصیده، تا سپیــــده به هـــزاران مثنوی

در خیال خاطر تو چشمه ســـــاران می کنم

می سرایم صد ترانه تا که آیـــی در بــــرم

با حضورت فصل زردم را بــــهاران می کنم

(c) ketabton.com: The Digital Library



گشته ای رنگین کمـان آسمـــــان شعـــر من
هی! به پیش خاطرت خود را نمایان مـــی کنم

## بغلان(شهر بلورین)

تابــنده و روشنگر دل ها شــــده بغلان
خـورشید صفت گشته و زیبا شده بغلان
امواجِ پـر از شور و نــــگاه های دلاویز
گل واژۀ رنگین غـــــزل ها شده بغلان
این شهر قتیبه ست، همان پیر خردمند
زیبنـــــده ی تاریخ و مـــعلا شده بغلان
این شهر پر از خون و پر از نعره ی تکبیر
گلگون ترین مهـد شـــــهدا شده بغلان
این دشت پر از مهر و خروش گاه مجاهد
یک کاخ بلـــــندی، به دنیــا شده بغلان
این مرکز ایـــــثار و فـــداکاری و همت
چون جام صداقت مصـــــفا شده بغلان
یاران سخنور و عزیزان پــــر از عـــشق
این شهر بلورین مســـما شــــده بغلان

(c) ketabton.com: The Digital Library





## تـوريالـی تـوخـی

تـوريالی توخی د محمد نواب توخی زوی د بازمحمد توخی لمسی دی او په ۱۳٦۳لمريز کال د مرکزي بغلان په يوه ادب پاله کورنۍ کې فاني نړۍ ته راغی.

توريالی توخی تر دولسم ټولګي پورې زده کړې ترسره کړې، خو د ژوند ناخوالو يې د لوړو زده کړو آرمان لاتر اوسه پوره نکړ.

په ۱۳۹۳ لمريز کال کې يې شاعرۍ ته مخه کړې، نوموړی د غزل په بڼه اشعار وايي، چې په وينا يې تر دې دمه يې (۳۰۰) غزولونه ليکلي. د توخي ټول ځوان او کلاسيکه شاعران خوښ دي؛ خو حمزه بابا يې تر ټولو د خوښې شاعر دی.

توريالی توخی په فرهنګي خوځښتونو او ادبي مشاعرو کې رغنده ونډه اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کلام

د سترګو دښته دې په شنه قلم زرغونه ښکاري
ورسره سره ســـره اننګې دې تل رنګينه ښکاري
بانه دې غشې پـه زړګې داسې ويشتل کړي ياره
بل په ښکلي مخ دې سره او شنه خالونه ښکاري
يا ته ښايسته يې يا سنـګار خو په هډی لیلام ده
څومره شغلې ستا دې بنــګړو او  لاسونه ښکاري
ظالمـــې دومره سنـــګار مکـــړه تباهي جوړوي
چې ستا په غاړه کې تيـاره ماښام هارونه ښکاري
ځينـــې خوشال ځينې خـــفه خپلو خويونو ځينې
دا ستا په سترګو کې يو بـــل ډول رازونه ښکاري
توخي کوه صبر لمر له لــــوړو غـــــرو پناه شي
هغه وه ښکلې چې رڼـــا يې په کورونــو ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

ستا دې هجران له کلي کــــډه بـــارومه ځمه

يو چېـــرته لرې زه جـونــــګړه جــوړومه ځمه

نور که هر چا راته د چم نامه په خوله واخيسته

ډېرې ښېـــرا به زه د زړه ورته کومـــه ځـــمه

هغه چې ما او تا به تل  په کې خپــــل مخ کتلو

نن زه هغـــه هېنـــداره خپــــله مـــاتومه ځمه

د ژمې يخې ورځې شپې ټولـــې په ويښه ولاړې

اوس چې سپرلی شو زه تـرې غوټـې بارومه ځمه

ډېرې ساده او دنـــګه ونه يـــې د کلـــــي جنۍ

زه يې همـــدا مينه کتاب په مخ ليــــکمه ځمه

آسمانه ته پـرې باندې ښکته کړه د رحم څاڅکې

زه تـــــوريالی به په ســر خـاورې بادومـــه ځمه

(c) ketabton.com: The Digital Library





## راز مـحمـد راز

راز محمد راز د حاجي محمد زوی ځلور لسیزې وړاندې د بغلان ولایت پلخمري ولسوالۍ د ډنډ غوري ساقي کلي یوې دینداره شینوارې کورنۍ کې زیږېدلی دی.

په کال ۱۳٦۳ لمریز ګران هېواد کې د شوروي ښکیلاک په مهال جلا وطني ته مخه کړه او د مهاجرت په دوران کې په پاکستان هېواد کې یې خپلې لومړني او منځې زده کړې بشپړې کړې. او په ۱۳۸۴ لمریز کال کې هېواد تر راستنیدو وروسته یې د ټولنیزو علومو ځانګه کې خپلې لوړې زده کړې پای ته ورسولې.

راز په کال ۱۳۷۵لمریز کې شاعرۍ ته مخه کړه چې تر دا مهاله یې څه د پاسه ۱۰۰ نسخې اشعار لیکلي چې ډېرې د غزل په بڼه دي.

راز محمد راز په خپل کلي د ښوونکي دنده په غاړه لري او تر څنګ تل د بغلان ولایت په کچه، ګڼو ادبي خوځښتونو او مشاعرو کې رغنده ونډه اخیستې او همدارنګه په ۱۳۸۵لمریز کال کې د چونغر ادبي بهیر غړی او وروسته یې د همدې کلتوري ټولنې مشر وټاکل شو. همدارنګه نوموړي ګڼو ولایتونو کې ادبي خوځښتونو سره نږدې اړیکې لري، تر دا مهاله کومه چاپي اثر نلري خو د شعرونو یوه ټولګه یې چاپ ته تیاره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کلام

راځئ چې سره کینو څو پســتې خبرې وکړو
د جنګ خبرې پرېږدو څو خوږې خبرې وکړو
دېرې سره راغونډې او قومــونه سره یو کړو
قومونه سره یو کړو پر جـــــرګې خبرې وکړو
وسلې دلاسه واخلو جنګیــالي غاړه غړی کړو
پخپلو کې راغونډ شو ښــې درنې خبرې وکړو
آ ه دود زموږ دکلي چې بــابـا راته پرېښودلی
پر هغه دود جرګه شو او پـــخې خبرې وکړو
پر هغه ژبه غونډ شو چې جرګه ده ځینې پاتې
پر لوړه سره کېنو پښتــنې خبـــــرې وکړو
د راز د کلي هر زلمی همدا ارمـان پر زړه دی
چې بیا سره یو ځای او ښې اوږدې خبرې وکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

زړه مــې په ساحــل کې د اوبـــو په انـــتظار کې دی

کـــله به پـــرې راشـــي د څپـــو  په انتظـــار کې دی

کلـــه به لـــه غيبه ورته غړپ د وصـــال راوړي څوک

بس هغه ســـاعت هغـو شېبـــو  په انـــتظار کې دی

سـوزي په سکـروټو د هـجران په ســرو لمبــو بانــدې

اور وربانـــدې بـل دی د غـوټو په انـــتظار کـــې دی

پرېږدئ چې د غم او اندېښنو درياب يې ډوب کاندي
نور نو ځنکدن ته د ورتلـــو  په انتـــــظار کـــې دی

راز د سمنـــــدر څــــپو آن تـــل ته رســــولی دی

لاهم هر خوا ګوري د وېـــستو  په انتـــظار کې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library





## احـمد شـاه پـاڅـون

احمدشاه پاڅون د امرالدین زوی او دین محمد لمسی دی په ۱۳۶۵ لمریز کال د هلمند ولایت په مرکز لښکر ګاه ښار یوې دینداره او متدینې کورنۍ کې زېږېدلی دی.
پاڅون لومړني زده کړې د کور څخه راپیل کړې، ورپسې د جومات لاره یې ونیوله د زده کړو بهیر یې همداسې روان وه، چې وروسته یې جلا وطني سره مخ شو او په دوام یې د شهید انور خان لېسې کې د ښونځي دوره بشپړه کړه، د ښونځي پای سره جوخت یې د اراکوزیا خصوصي پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې لوړې زده کړې پیل او په ۱۳۹۷ لمریزکال کې یې بشپړې کړې.
پاڅون ۱۳۸۲ لمریز کال کې شعر سره د ځانګړې ذوق همدارنګه د عبدالباري جهاني او درویش دراني د کلام سیوري څخه اغېزمنېدل یې خپل د شاعري پیلامه بولي، چې اوس مهال  غزل، رباعی، لنډي کیسې، لنډې ادبي ټوټي او ګڼ نور ګټور مطالب لیکي.
احسان الله درمل، ممتاز اورکرزی، شهنواز باقر او ګڼ شمیر نور پښتانه شاعران یې خپل د خوښې شاعران په ګوته کوئ.
پاڅون د ځانګړې ذکاوت او لوړ استعداد په لرلو سره ادب ته د چوپړ تکل لري او غواړي خپل پښتانه د ادب له اړخه پیاوړتیا ته ژمن کړي. پاڅون لسو کلونو راهیسې د لښکر ګاه ښار په بېلابېلو ځانګو، ادبي خوځښتونو او راډیوي خپرونو کې د ادب په چوپړتیا بوخت دی، چې تر دا مهاله یې ګڼ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمېر کتابونه لیکي او ژباړلي دي، چې په وینا یې یاد بهیر به همداسې روان وي.
د ښه حکومت او آمن هېواد درلودل همدارنگه مصؤن چاپېریال کې خلکو ته د زړه له تله خدمت کول د احمد شاه پاڅون تر ټولو ستره هیله ده.

## کلام

ته دعــا کوه یو دنـگ پاڅــون به راسي
ستا د مینې یو مـلنگ پاڅــون به راسي
ته یې زلفو او یـا زنې ته نـــــــړدې کړه
لکه خال، لکه لـــــونگ پاڅـون به راسي
یا د تورو په میـدان کې پســــــې گوره
یا بنگړو ته ورکه شرنگ پاڅون به راسي
لکه تکه سپینـــــه ســـــوله را رهې شه
لکه جنگ داسې بدرنگ پاڅون به راسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

ددې کلــي ددې ښـــــار را مـــعلومېږي
ځــوانه ته هــم د چـــا يـار را مـــعلومېږي
پــه زړو جـــامو کې وتـــی يې لـــــه کوره
په دې لــوی هسـتي کې خوار رامعلومېږي
دا چې تــلل او کړيدل دې په حساب دی
د چـــــا لاس کــې گرفتـــار را معلومېږي
خپـل ميـده گامونه شمېـــرې بيا روان سې
بيـــا يو چـــاته انتـــــظار را معـــلومېږي
د مورکۍ د پستې غېږې خوب دې هير کړ
نن د ژونـــد ځخه بېـــزار را مـــعلومېږي
دا چې خـــړ ځادر دې تاو دی لـــه وجوده
گـــــرانه تــه پـه بمـو بار را مــــعلومېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library





## محمد عوض نومیال

محمد عوض نومیال د محمد مومن احمدزي زوی او نسم خان احمدزي لمسی دی په ۱۳٦٦ لمریز کال د مهاجرت په بهیر کې د پاکستان هېواد هریپور نومې سیمې کې زېږېدلی او په خټه ټغر احمدزی دی.

نومیال د ژوند تاوده ساړه ډېر تېر کړي دي چې هېواد ته د راستنېدو سره يې لومړنې زده کړې په ۱۳۷۳ لمریز کال د شهید حبیب الله خان په لومړنۍ ښونځي کې پیل او په ۱۳۸۷ لمریز کال د نوی بغلان عالی لیسې کې يې د ښونځي دوره بشپړه کړه.

نوموړي ښونځي دورې څخه وروسته بغلان زده کونکو په روزنه بوخت شو او بالاخره په ۱۳۹۴ لمریز کال د کابل ولایت کاردان پوهنتون کې لوړې زده کړې پیل او په ۱۳۹۷ لمریز کال کې يې د فراغت پاڼه په لاس واخېسته.

نومیال وايې چې ښونځي دورې څخه به يې په ډېره ټیټه کچه اشعار لیکل او ښونکي يې استاد زینت الله ورسره مرسته کوله؛ خو اوس مهال نوموړي د بغلان یو تکړه شاعرانو څخه بلل کېږي، چې په حماسي او انتقادي انداز کې غزلونه او نظمونه لیکي همدارنګه استاد د نثر په لیکلو کې هم لوړ مهارت لري او په دا ځانګه کې يې ګڼ شمېر نثرونه لیکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځوانو شاعرانو کې سميع الله تړون او په کلاسيک شاعرانو کې يې خوشحال خان خټک د خوښې شاعران دي، نوميال خپل ټاټوبي کې ګڼو ادبي خوځښتونو او مشاعرو کې ګډون کوي او تر دا مهاله کومه چاپي اثر نلري خو تمه ده چې نژدې راتلونکې کې به چاپي اثر د لوستونکو مخ ته کېږدي.

د حق ليکنه يې ستره موخه او په هېواد کې د وينا اصل په عمل بدلول يې لويه هيله ده.

## کلام

د سپيـــن ځـلانده لمر په شـــان رڼا به راولو
د حق سپېـــځلې غيــږ کې روڼ سبــا به راولو
زمونږ د تورې شـرنګ به د افق له څوکو واورې
يو ځل بيــا د مجنون غيـــږ ته ليـــلا به راولو
د خولې زاهده بس کړه نور ګواښونه راته مکړه
و دا هســـې متقيـــانو تــــه تقـــوا به راولو
مونـــږ بـــدې راوهلـــې دي آرام نه پېـــــژنو
بيا ســـوله دې فضـــا ته په نخـــــا به راولو
دا تل مـــې چې مزل په ترږمو کې وو روان وم
دا د نيــــمې شپې ډېـــوې ته و بورا به راولو
فضـــا به د وحشـــت تورو بادونونه صفا کړو
شمـال به يې د ګهيـــځ ځينـــې وږيا به راولو
نو مـل به راسره د ژوندون لاره کې نوميال وي
اتـــل د زمـــانې نــــن په رښتـــيا به راولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

چې خـپل مې تنګوي نو د بل چا نه څه ګیله ده
لمسـی چې شــو بې لارې د بـابا نه څه ګیله ده
خواص بیـا د نســــلونو د نیکه په طرف درومي
نیکــــه دې ګوډاګی وو ګرانه تا نه څه ګیله ده
منبـر مو د جمـــات له ډېر تبلیغه سترې شوی
چې ته په لاره نـــه شوې د مـــلا نه څه ګیله ده
مجنون چې د لیـلا آرمان تر ګـــــوره پورې ویوړ
جــــفا چې شولــه عـــامه د وفا نه څه ګیله ده
تقـــدیر د کائیـــــــناتو د الله پـــــه اراده ده
چې نن راځینې درومــي د سبـــا نه څه ګیله ده
قاضي پـه محکمه کې چې د غـلا په تور ولاړ وي
خاونــده د بې عقـله سړي غـــلا نه څه ګیله ده
نـــن برم د مشـــــرانو د کشـــرانو ســـره نشته
هوښیار چې پرتوګ باسي بې حیا نه څه ګیله ده
دستــور د زمـــــانې خو نن رښتیا چې بـدل شوی
چې چـرګه هـــګۍ نکړي د سنــــډا څه ګیله ده
نـن کـور په کـور اورونـه د نفـــاق هسـې بلېږي
چې ورور مو لاس تړي د امریکـــا نه څه ګیله ده
محفـــل وي د واده واړه مشـــران پکـې ګـــډېږي
په نوم د پارلمـان داسې شعـــــار نه څه ګیله ده
چې آس په منـــډوي کې د وزې په بیعـــه پلوري
نومیاله دا د وخت داسې ســـودا نه څه ګیله ده

(c) ketabton.com: The Digital Library





## قـاري شېـرعلـي لکـنوال

شېرعلي لکنوال د عبدالواحد زوی د صوفی لمسی په ١٣٦٦المریزکال کې د کندوز ولایت د خان آباد ولسوالۍ د آقتاش کلي په یوه دینداره او عالمه کورنۍ کې دې هستۍ ته سترگې غړولي دي.
نوموړی په ١٣٧٥المریز کال ښوونځۍ کې شامل شو، او په خپل خدای بخښلي استعداد یې په ١٣٨۴المریز کال کې ښوونځۍ دوره بشپړه کړه. وروسته یې خپل د کلي جوماتونو او گڼو مدرسو کې د نهه کالو مودې لپاره دیني زده کړې ترسره کړې، لکنوال په ١٣٩٢المریزکال کې د مرکزي بغلان دارالمعلمین کې نیمه لوړې زده کړې پیل او په کال ١٣٩۴کې یې بشپړې کړې.
شېرعلي لکنوال په ١٣٨۵المریز کال کې شاعري ته مخه کړه، چې صوفیانه اشعار به یې لیکل، چې اوس هم پرې پایي. نوموړی د مرکزي بغلان او ولایت په کچه د نوموتو نعت خوانانو سر کې راځۍ، چې ترنم یی د زړه براسونه ماتوي.
کلاسیک شاعرانو کې  یې رحمان بابا او حمزه بابا د خوښې شاعران دي.
شېر علي لکنوال د یو ادب پال ځوان په توگه تل په کور دننه  او ولایت څخه بهر ادبي خوځښتونو او بهیرونو کې فعاله ونډه اخیستې، چې په خپل خواږه ترنم یی ادبي بنډارونه لا پسې خوندور کړي دي.
سوله ،آرامي،د شرعي نظام پایښت، د مسلمه امت بریا او یووالي او د اسلام پرمختگ خپل ستر آرمان بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعت شريف

يم ګنـــاهګاره ته خپـل در ته مې منــې او کنه
پاکه رســوله شفاعـــت به مې کــوې او کنه
يم ګنهکار په ګنـــاهو کې لتــاړ شـــوی يمه
پــروت ببر ســـر په ډېرانو کې کبـاړ شوی يمه
درزمه تاله چې په خواکې مې پــــرېږدې او کنه
يم ګناهګاره ته خپـــل در ته مې منــې او کنه
هوا هـــوس چـــې د غفلت په خوبو وړی يــمه
نفــس شيطان ميـــرځمن بند په بند تړلـی يمه
توبه اوبـــاسم شي به مـــاتې زولنــې او کنه
يم ګناهګاره ته خپـــل در ته مـــې منې او کنه
کله چې ګـــرانه مـــدينې منـــورې ته درشم
ستا د وصــــال لپاره ښکلې نظــارې ته درشم
هــلته به ما کړې جاروکښ د خپل روضې او کنه
يـم ګنــاهګاره ته خپـــل در ته مې منې او کنه
د زړه سکون مې شنې روضې ته په کتوکې رازئ
ستا شيـن ګنبد او منــــارې ته په کتوکې رازئ
ما لکنـــوال به کړې ملنــګ د دروازې او کنه
يم ګناهګاره ته خپــــل در تــــه مې منې او کنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

بيلتون دې يم خوړلـی اورکې سوزم د هـــجران
په زړه مـــې راوربـــړي محـــــمد آخـر زمان
کوهي د زنخـــدان کې دی لويدلـــی يم له سره
يوسف کنعانې غـــــوندې اخـــــته يمه په سره
دا ستا دې جدايـي طاقت می نشته په هيڅ شان
بيلتون دې يم خـوړلی اورکـــې سوزم د هجران
په ورځ کـــې د جـــزا يـــم په ګناه داغي داغي
محبـــوبه رحم وکړه خـــبر دی ستايم امتـــي
هېڅ بلـه چاره نـشته په ګـــناه يم پښـېـــمان
بيلتون دې بـم خوړلی اورکې سوزم د هـــجران
په ورځ کې د مــــحشر به کوي زمونږه شفاعت
مرام لرم آرزو حبـــــــيبه ستــا د شــــــفقت
ډېر سخت سوال ځواب دې هم شته تله د ميزان
بيلتون دې يم خوړلـــــی اورکې سوزم د هجران
در اومې غـواړه ربـــــــه درته ډېر يم خجالت
لت پت ربـه ګنـــــــاه کـــې يمه تاته ملامت
ما عفوه کړه دوسـيه مــــې ډکه شوې له عصيان
بيلتون دې يم خـــــوړلی اور کې سوزم د هجران
که څه هم ستا په مــــينه کې ما بولي دهشتګرد
زما عـــزم پولادي دي لکنـــوال نه يم نامـــرد
که ســر او تـن مې لاړ شي يو مـــې مهر يو پيمان
بيلتون دې يم خوړلـی اورکې ســـوزم د هجران

(c) ketabton.com: The Digital Library





## ذبـیح الله نـوري سـلېمانخېل

ذبیح الله نوري سلېمانخېل د ارواښاد استاد نور الله نوري سلېمانخېل او د حاجی خان لمسی دی په ۱۳٦۷ لمریز کال پاکستان هېواد کې سترگې نړۍ ته غړولي دي.

نوموړی لومړۍ زده کړې پخپل پلرني ټاټوبي (بغلان قیصرخېلو کلي) کې پیل او په ۱۳۸۸ لمریز کال کې د مرکزي بغلان عالي لېسې څخه په لوړه درجه فارغ شو.

سلېمانخېل په ۱۳۹۲ لمریز کال کې د مرکزي بغلان د کرهنې او وترنرۍ انستېټوت د اگرانومۍ په څانگه کې خپلې نیمه زده کړې بشپړې کړې.

نوري سلېمانخېل په ۱۳۸۵لمریز کال کې شاعري پیل کړه، چې پلار یې ورسره یاد بهیر کې خورا ډېره مرسته کړې. عبدالرحمان بابا، خوشحال خان ختټک، احمد شاه بابا، اکرام الدین او مفتون یې د خوښې شاعران دي. په خپله هم د غزل په فورم کې ټولنیز او اخلاقي اشعار لیکي؛ خو لا تر دې دمه کوم چاپي اثر نلري.

نوموړی تل ادبي بهیرونو او مشاعرو کې ونډه اخیستې او ادب پالنه کې یې رغنده رول لوبولی دی.

په گران هېواد کې دایمي سوله راتلل او د هېواد ټولو وگړو ته د تعلیم او حقوقو رسېدل د ذبیح الله نوري سلېمانخېل لوړه هیله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ناکام په مینه کې

څه چـــې راغلـــي وي ازل کې بدلـــــېدلی نــشي
څه چې لیکلـــي وي تقـــدیر کې پاکېـــــــدلی نشي
بس دا غم به ګالی چې نه یې سـر او نه یې بر معـلوم دی
زړګي کـــې بې له دینــــه بـــل غــم ځــاېدلی نشي
نورې یې لنــډې دي د ژونــد شپـــبې پدې هېواد کې
ســـوی پـــه اور زړګی په اور کـــې اوســـېدلی نشي
کـــــډه یې بارده له دې ښـــار نه ځــي یو بل مـالت ته
د یـــوه شـــوم لپـــاره ټول ښـــار ســـوزېدلی نشي
تللی په فکر بـس د خیـــال څپـــــې یې نه خوځوي
بې له توپانه دا څپې هـــم خوځېـــــدلی نـــــشي
چمن کې واړه بلبلان دي انـــــتظار له وختـــــــــه!
د ګـــلابي ګل ولې خدایـــــه سپـــــړېدلی نشـــي
عـــجیبه وخت شو د هر چا زړونه له مینې ډک شـول
د مـــعصوم زړه مـــــینه هېڅ زړه کې ځایدلی نشي
ناکام په مینه کې به څنــــګه تـــسل زړه ته ورکړي
بغیر بې یاره دې دنـــــــیا کې ګرځېــــدلی نشي
ذبیح الله وایي مېلمه شي مـــرګی دا بـــــه ښه وي
په ژونــدانه له خپل جانـــان نه بېلېـــــــدلی نشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (غم دې راته پاتې ده په ګټه کې)

زه دې يم د پاکې مينـــې لـــــټه کې
ما ســــره يــاري وکړه په پــــټه کې
ژوند باندې باور نشته پردېــس به شم
بيا به ګـرځې ياره پـــورته ښکـــته کې
ستا ياري انګــــار ده هـم سکــروټه ده
ما ډېر خوند ليـدلی دی ســکروټه کې
خدای دې هدايت ورته د ښــکلي کړي
څوک چې ريبـــاري کوي غلطــــه کې
ډېرو دا منلې په يو چا باندې مين يې ته
ځکه د ملا تعويذ تړلی دې په مــټه کې
ځکه ذبيــح الله نوري خوشـــــاله دی
غـــم دې ورته پــاتې دی په ګـــټه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





## شفـیق الله احـمدزی

شفیق الله احمدزی د معلم حیات الله شرفیار زوی او د حاجي محمد علي لمسی په ۱۳٦۷ لمریز کال د بغلان ولایت مرکزي بغلان کوړ چنار کلي په یو دینداره او علم دوسته احمدزۍ کورنۍ کې زېږېدلی دی.
احمدزی په ۱۳۷٦ لمریز کال د نوي بغلان لېسه کې شامل او په ۱۳۸۸ لمریز کال کې یې د مزارشریف یو ځایی لېسه کې خپله د ښونځي دوره بشپړه کړه.
نوموړی د شعر سره علاقه او د مینې بلې ډېوې اړ کړ چې په ۱۳۹۴ لمریز کال کې شاعرۍ ته مخه کړې او د غزل په بڼه ښایسته اشعار لیکي.
په کلاسیکه دوره کې یې د پښتو ژبې بابا عبدالرحمان مومند او په معاصره دوره کې اور ژبی شاعر مطیع الله تراب یې د خوښې شاعران دي.
احمدزی د ادب سره د مینې په پار ادبي خوځښتونو او مشاعرو کې رغنده ونډه اخلي او د ملګرو په منځ کې زرین نوم برېښي.
د هېواد آرامښت، سوله او ځوانانو ته د لوړو زده کړو د زمینې هوارې یې ستره هلیه او آرمان ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کلام

تـــــوره شپــــه وه تر سبـــــا مې وژړل

ستـــا تصـوير ته تر بېــــــــګا مې وژړل

د خفـګان شپه مې په اوښـــــکو کړله تېره

ستـا له دوه ستـــــرګو پنـاه مـــــې وژړل

ستا ښايست مې پېژنده نه يـــــوه شپه کې

تـــش ديـــــــدار ته نا آشـــــــنا مې وژړل

د بيلتون چيغې مې پورته شوې د خولې نه

ډېر په کـــوکـــو واويــــــلا مـــــــې وژړل

ستا جفـا و مينتـــــوب شـــــــوه را په ياد

ځـــواني مـــرګـــــې په وفـــــا مې وژړل

ليونی شو احمــــــــدزی ستا په کوڅه کې

ډېر په ياد کې يــــــــاره ستـــا مې وژړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

ولې مـې وژنـــــــــې په ژړا زړګیـه

زړه مـې بایللـــــــی دی په تا زړګیـه

پخپل حسن مکړه دومـــــــره غـرور

مشـــــه میـــن په دلـــربا زړګـــیه

ته چــې بهر ته رانه لاړې ګلـــــــې

راته رایاد شــوه ستـــا جفـــا زړګیه

نه دې احـــوال نه دې پېغام را رسې

رانه خـو ورکه شـــــــوې لیلا زړګیه

ټوټې ټـوټې شولې ځېــــــــګره زما

ته شوې میــن په بې وفـــــا زړګیه

احمــدزی بیا کړیږي یار یـــــادوي

شـــو لیـونی دا په صحــــرا زړګیه

(c) ketabton.com: The Digital Library





## عبدالکریم کبیری

عبدالکریم کبیری فرزند عبدالکبیر درسال ۱۳٦۷هـ.ش در قریه حفیظ آباد ولایت بغلان در یک خانواده دیندار پا به عرصه وجود نهاده است.

موصوف در سال ۱۳۸۱ ه. ش وارد مکتب ابتدائیه شد با تکمیل تعلیمات ثانوی در لیسه زراعت ولایت بغلان شامل شده و در سال ۱۳۸۸ ه. ش از لیسه مذکور فارغ گردید.

کبیری در سال ۱۳۹۵ ه. ش به فراگیری علوم طبی در یکی از پوهنتون های خصوصی کشور آغاز کرد و تا این دم ادامه میدهد. وی همواره در راستای فرهنگ و ترویج علم تلاش ورزیده، در انجمن های ادبی و پژوهشی در سطح زادگاه خود اشتراک فعال میورزد.

حافظ شیرازی از شاعران قدیم و کاوه جبران از جمله شعرا نسل جوان کبیری بوده که خود نیز در قالب غزل شعر میسراید.

آزادی و آرامش کشور هکذا رو آوردن جوانان به علم و دانش از آروزو های بزرگ موصوف میباشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کلام

زنده گی رنگ دیگر دارد ومـــن رنگ دیگر

زنده گی جنگ دیگر دارد ومــن جنگ دیگر

روزگار دشمن این جان من اسـت ای مردم

او به دست بیل وتبر دارد ومن سنگی دیگر

***

وطندار روزهایت ساده نیسته

وروزی عیش ونوش باده نیسته

تو گام استـــــوارت رابلند کن

که اینجا انتـــهای جاده نیسته

***

دقیقـــــه با دقیقـــه جنـــگ دارد

که ساعت چـــهره هفت رنگ دارد

شکن این قاب ســاعت رابه سنگی

که ازجنگ و جفـــــا فرهنگ دارد

(c) ketabton.com: The Digital Library





## محمد کریم ادیب

محمد کریم ادیب ایاس د عبدالغیاث زوی د ایاس الدین لمسی دی، لقب یې ادیب او ایاس تخلص کوي، چې د خلکو تر منځ په استاد ادیب او ابو عبدالله بغلاني سره شهرت لري، په ۱۳٦۹ لمریز کال کې د مرکزي بغلان نوی ښار یوې بې وزله او دینداره کورنۍ کې زېږېدلی دی له پلاره تاجک او د موره پښتون دی.

استاد ادیب په ۱۳۷۵ لمریز کال کې د نوي بغلان ښوونځي کې شامل او په ۱۳۸۷ لمریز کال کې یادې لېسې څخه په لوړه درجه د (۹۹.۷٦٪) سلنې نمرو سره د فراغت سند ترلاسه کړ. په کال ۱۳۸۷ کې نوموړي د کانکور ازموینې له لارې د ننګرهار پوهنتون شرعیاتو پوهنځي ته لاره پیدا کړه او په ۱۳۹۲ لمریز کال په یادې پوهنځي کې یې خپلې لوړې زده کړې بشپړې کړې.

استاد ادیب د ماستر ي آزموینې له لارې په ۱۳۹۲ لمریز کال د ننګرهار پوهنتون د شرعیاتو پوهنځی د فقه او قانون څانګه کې ماستري دورې ته بریالی شو او خپله لومړۍ ماستري یې ۱۳۹۴ لمریز کال کې یاد پوهنتون څخه تر لاسه کړه.

استاد ادیب په خپل ځانګړي خدای ورکړې استعداد سره په اسلامي زده کړو کې لوی لاس لري او همدا رنګه د خطاطي او ښایسته لیک استعداد سره د استادي د کمال درجي ته رسیدلی دی.  استاد ادیب خپل د بریالیتوب او پوهې ستر لامل د خپل ولس علماو، د لېسې او پوهنتون د

(c) ketabton.com: The Digital Library



استادانو اخلاص او هڅې، او په ځانګړي ډول د خپل لوی استاد او جيد عالم مولوي سبز محمد رسولي (مولوي پنجشېري) د شاګردی مجالسه بولي، چې د نوموړي تر ښوونې او روزنې لاندې يې د قرآن العظيم الشان ترجمه او لنډ تفسير زده کړې ترسره کړي.

استاد اديب په ۱۳۸۲ کال کې کله چې د ښونځۍ زده کونکی وه د لويو لويو شاعرانو د کارنامو د مطالعې او شعري ذوق په لرولو سره شاعرۍ ته مخه کړه چې اوس مهال په دوه ژبو( پښتو او دري )علمي او اخلاقي اشعار ليکي.

استاد اديب په خپل قول سره چې د خوښې شاع ران يې پښتو ژبه کې عبدالرحمان بابا، حمزه بابا، ګل پاچا الفت او ملنګ جان، همدارنګه دري ژبه کې مولانا جلال الدين بلخی، مصلح الدين شيرازي، بيدل دهلوي او اقبال لاهوري دي.

استاد اديب د ښوونځي دورې څخه تر پوهنتون او اوس مهاله په علمي ادبي او دعوتي فعاليتونو بوخت دی، چې بيلګې يې د اديب فرهنګي کانون جوړښت، بغلان غږ مجله، شريعت مجله، فهم الاسلام مدرسې تاسيس ډول ډول فرهنګي او پوهنيز کنفراسونه، علمي او ادبي مجلسونو جوړونه او همدارنګه د ۳۴ دورو څخه د پاسه په بېلابېلو لکه خطاطي، اسلام پېژندنه او د بيان فن څانګو کې زده کونکي روزلي او فارغ کړي دي.

ياده دې وي چې استاد اديب يو له تکړه او نوښتګرو ليکوالانو څخه شمېرل کېږي، چې تر دا مهال يې( ۲۵ )ټوکه ليکلي او ژباړلي کتابونه چاپ شوي او( ۳۲ ) ټوکه کتابونه يې په بېلابېلو څانګو کې ليکلي چې لا تراوسه يې چاپ ته ندي سپارلي، که رب رضا وي ډېر ژر به يو په بل پسې له چاپه راووځي او دا بهير به لا ګړندي او پياوړي دوام مومي. نوموړی تر دې دمه د هېواد په مختلفو پوهنتونونو کې د استادی مقدسه دنده ترسره کړې او اوس مهال د (خانه نور او جهان) پوهنتونونو کې په تدريس بوخت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد ادیب د یو ځوان شاعر او لیکوال په توګه د اسلامي نظام اعاده، قیام او ساتنه یې تر ټولو لوړه هیله ده، څو مسلمانان د ملت څخه بهر او امت شي او د یو اسلامي سپېڅلي چتر لاندې ژوند وکړي.

**حمد**

بنـام ذات پـاک کبـــریائـی — مـرا ازخاک ناچیزداد صـفـائی
خـلاق این زمـین وآسمـانسـت — به یکتائی وجودش هر زمانست
بود مـالک و قـادر هم توانـا — روف ورازق و اعلـــــی ودانـا
زنیستی هست بنموداین خلائـق — به انسان انس داد و هم عـلائق
ندارد مثل ومانند بی نذیـراست — به کار بنده ها هردم خبیر است
به امر او شـود هـر کار دنیـا — کـلام اوسـت مرا به ز کیمیا

بود مشغول حمد او هــر آنچــه
ز بحر و بر که مسئول ان بدانچه
برای رهنـــمود انس هـم جان
فرستاد از نبیـــان و رسـولان
اساس جـنت و دوزخ بنـا کرد
منافق و مسلمان را جـــدا کرد
هدایت میشود آنــرا که خـواهـد
نخواهد چون ابو جهــلان بماند
قلمها خشک شود وصفش نشاید
مگر یک بـاب علـم او گشاید
ادیب قاصر بود از وصـف رحمان
فقــط اقرار نمـا ایمـان و ایمـان

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

سپېڅـــلـی دې قـــرآن دی پاکه ربه

ضــرورت د هر انســـان دی پاکه ربه

دواړو کونو کې ډالۍ د نیکبختي  دی

د باطـــــل او حق فرقان دی پاکه ربه

*****

په هرحال کې تل د علـــم طلبگار شه

دا د نفس له خواهشـــاتو نه بېزار شه

مخترع به درنه جوړ شي مکشـف شې

یو شـــرط ومنه له نن نه لاس پکار شه

*****

قـــــوي ذهن او دماغ نه حاصلېږي

چې گناه ته ځـــــوک هر کله روانېږي

تـــــورې وربځـــــې د لمر رڼا فنـا کا

کـــله هم نور او ظلمت نه جمع کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library





## سیـد اسـد الله غـالب

سید اسدالله غالب فرزند سید جان (مبین) نوه سید عبدالمهیمِن در سال ۱۳۶۹ هـ. ش برج جوزا مکان کارته مامورین، ولسوالی بغلان مرکزی ولایت بغلان در یک خانواده اهل علم ، فرهنگ و معنوی متولد گردیده و متعلق به خانواده اطهر سادات میباشد.

غالب در سال ۱۳۷۶ هـ. ش وارد لیسه نوی بغلان گردید و در سال ۱۳۸۷ هـ. ش موفقانه دوره مکتب خویش را به اتمام رسانید، متعاقباً با سپری نموده امتحان کانکور در سال ۱۳۸۹ هـ.ش به پوهنځی ادبیات پوهنتون ولایت تخار راه یافت و در سال ۱۳۹۲ هـ. ش سند فراغت خویش را بدست آورد. همچنان نامبرده دروس شرعی و ادبی را نزد والد بزرگش که از جمله شاعران و فاضلان دوران خود فرا گرفته است.

غالب بدون مقدمه و زمینه به شاعری رو آورده و در سال ۱۳۸۳ هـ. ش زمانی که متعلم بود نخستین شعر زندگی اش را سراید و الحال در سبک غزل و آزاد شعر میسراید.

مرحوم خیرالدین ناله، سید محسن خاکی، حمیدجنون از جمله شاعران جوان و حافظ شیرازی ، سعدی شیرازی و مولانا جلاالدین محمد بلخی از جمله شاعران کلاسیک و دلخواه غالب میباشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موصوف در انجمن های ادبی، و برگزاری محافل ادبی سهم بارز داشته تا اکنون چهار اثر ادبی ناچاپ دارد که عنقریب اقبال چاپ خواهند یافت.

آراستگی با زیور علم هم میهنان، و خدمت به خلق الله از آرزو های والای سید اسد الله غالب میباشد.

## کلام

انبـــار غـــم ز خاطر ما شستشـــو نشد
یک بار بر طـرف غمی بغض از گلـــو نشد
بیرنگ و رونق از دلی رنگـــین زمانـــه رفت
بیچاره دل که باخته یـــی رنگ و بـــو نشد
عشـــق آمـــدو کشید ز خاکم به خـاک زد
در ایـــــن مقـــام دبدبه یی آبـــرو نشد
چشم و زبان ببسته و دستـــم به بنـــد کرد
عقـــلم ربود و دغدغه یی جستـــجو نشد
گفتـا پـــذیر خـــوب و خرابـــم خراب شو
ما را زبـــان و مـــرحله یـــی گفتـــگو نشد
این عشق چیست؟کیست، بگوید به من چرا
کار عــــدو نـــموده و نامــش عـــدو نشد
بـــیچاره ام به چاره یی این دست انقـــلاب
جز جــــور او که چیــــز دگـــر آرزو نشد

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

آه بـــــر دل به در شـــــهر تمـــــــنا نرسید
شــــام ما را چه شد اینجا کـــه به فردا نرسید
بی خبــــر مانده ملکیم کـــه مهتاب آنجاست
چه خبـــــر هاست در آنجا که دل آنــجا نرسید
صـــاحب زهــــد نا انیجاست بـــرو ای زاهد
هــوش دور است از آن خانــــه که صهبا نرسید
کوتــــه از بی خبری های مداوم حقـــــــــا
دست تقــــوا ست که بـر دسته پـــروا نرسید
کس چه دانست در این شهر که هیچ امــــردگر
که بـه خـــاک در خلــو تگـــــه بر نا نرسید
مستــــحق نیست مگر خانــــــه خرابان یا رب
مــــــوقع وصل چــــــــرا دیــــده بینا نرسید
غالبــــا سخت خزان خورده نگر بــــاغ سخن
مگرات هیـــچ شبـــی شبنم معنـــــا نرسید

(c) ketabton.com: The Digital Library





## احـمد جـاوید حـکیمی

احمد جاوید حکیمی فرزند عبدالحکیم نوه پاینده محمد در سال ۱۳٦۹هـ.ش برج قوس یوم دوشنبه در یک خانوادهٔ متدین متعلق به فامیل حکیمی از عدم پا به هستی نهاد.

موصوف در سال ۱۳۷۸هـ.ش شامل لیسهٔ نوي بغلان شد و در سال ۱۳۹۰هـ.ش از لیسهٔ مذکور موفقانه فارغ گردید. حکیمی در سال ۱۳۸۹ هـ. ش آغاز به سرودن شعر کرد، درد وطن و علاقمندی شخصی اش را بزرگترین علل شاعری خویش میداند.

عبدالقهار عاصی، عفیف باختری، و سمیع حامد از شاعران جوان مورد علاقه وی، هکذا مولانای بلخ و بیدل دهلوی از شاعران مورد پسند در دوره کلاسیک احمد جاوید حکیمی میباشد.

از انجائیکه جاوید حکیمی شخص پرتلاش در عرصه ترقی فرهنگ به سطح زاده گاه خود پنداشته میشود از نعمت خوش ترنم نیز برخوردار است که به شهرتش افزوده است. حکیمی در فعالیت های ادبی و رسانه ئی نیز سهم برازنده دارد.

آرامی کشور و پیروزی اسلام از آرزو های والای حکیمی بوده، یکپارچگی و همدلی را از آرمان های بلند خود قلمداد میکند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کلام

طلاطـــم هـای امـــواج غـــرورت

کشد صد ها دلـــی را در حـــضورت

بپوشم واسکت، پـــر بمـــب دریغـــا

کفن پوشم که تا گـــردد ســـرورت

من و دیـــوانه گـــی و هر بیـــابان

تو مست هستـی این عمرم قصورت

حـــــکیمی را گریستن پیشه داد آن

کلام خشـــــک و تلخ و تیز و شورت

مه و خورشیـــد، هفت باب بهشتی

خجل پیـــش دو چشـــم فلکلورت

ربوده ایـــــن و آن زنـــــده گی ام

دو پلک ناگـــــهانی چـــــکه چورت

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

دنیـای عجیب بـــود، در پیــچ و خـــم انگور
در حـــین سفر دیـــدم صـــد ها ورقــی منظور
نـــی سـردی و نی گـرمـی یک بــزم عروسانه
یــک محفل و پاکوبـی مضمون همـــه معمور
نی ابر هوا خیره نـی دامـــــــن کـــس چیره
هر که به هیاهو مست، رقصان عجبا مسـرور
سه ساقی و بی حــد جام کار همـه در اتمام
بر دوش حکیمی جــام عطر کفنـــش کافور
این زایه چـــرا حی شد این میوه چرا می شد
در خانه یی تار و سرد در خون تپیدن مجبور

(c) ketabton.com: The Digital Library





## نـاصـر سـروري

ناصر سروري د محمد عثمان زوی د حاجی عبدالرحیم لمسی په ۱۳۷۱ لمريز کال د بغلان ولایت یو دینداره او علم دوسته کورنۍ کې له عدم څخه د هستۍ پر ځمکه پښه کېښوه .

سروري د اووه کالو وه چې د بغلان ولایت نوي بغلان عالي لېسه کې شامل شو او په ۱۳۹۱لمريز کال کې د یاد ښونځي څخه په لوړه درجه فراغت سند واخیست. وروسته د بغلان ولایت انستیټوت د حسابداري په څانگه کې خپلې نیمه لوړې زده کړې بشپړې کړې. ژوند شته ناخوالو یې وطن کې د پایښت بخت ورنکړ او پردېسي یې ور په برخه کړه چې اوس مهال له اوو غرونو او سمندرونو هاخوا  د فرانسې هېواد کې د جلا وطنۍ شپې او ورځې تېروي.

ماشومتوب څخه یې شعري ذوق، سولې او د مینې تنده، سروري شاعري ته اړ کړ او په ۱۳۸۷لمريز کال کې یې خپل لومړی شعر د کاغذ پر مخ ولیکه.

د غزل په فورم ښایسته کلام سروري د شهرت ستوري لا ځلانده کړي، د کلاسیکه دورې واړه شاعران یې د خوښې او حساب شاعران بولي.

نوموړي خپل ټاټوبي کې تل ادبي خوځښتونو او بهیرونو کې رغنده ونډه اخیستې، ناصر سروري درې چاپ شوي آثار لري، او غواړي د ژوند شعري کلام یې د دېوان په توگه راونغاړي.

سروري د مینې، سولې او زده کړې تږی دی، چې ټوله شاعري په همدغه ستر او مقدس آرمان را څرخېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کلام

ژوند زما ګـــــلزار کړه وايي سمه ده
ما خمار خـــمار کړه وايـــي سمه ده
ما نور د تيـــارو نه لــــرې لرې کړه
شپه راته سهـــار کړه وايي سمـــه ده
زه ورته له مـــينې داســـــې وايـمه
ځـان راته په قـــار کړه وايي سمه ده
زه به دې هـم ټـول عمر نازونه وړم
ما د غـــاړې هـار کړه وايي سمه ده
پرېـږده چې ټـــول عمر درته ګورمه
لږ شانتې سينګار کړه وايي سمه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

کتــابونه وېـــــــشل کېږي قلمــــــــونه وېشل کېږي

نــفرتونه قتل کېــږي چې ګلــــونه وېشل کــــېږي

ددې چــم ملا ته ګوره تعویـــذونه هر وخـــت لیکي

ددې چــم ملا د لاس ټـــول تعــویذونه وېشل کېږي

دلته څوک دي چې ورک شوي هرې خواکېږي پوښتنه

دغه نوم چې رایادېــــږي تصـــــــویرونه وېشل کېږي

دا زما مــــــــاشوم زړګــی خـــو په خبرو نه پوهېږي

زما زړه نه ټول وجـود ته ستــا یادونه وېشـــــل کېږي

دې سپرلي سپرلي موسم کې ښکلا ګانې یو په سل شي


په دې دښـتو او په غــرو کې دا رنګــونه وېشل کېږي

زه بــاور لـــــــرم ناصــره دا هــېواد به ابــادېــــږي

بیا به خــــامخا ناصــــره الغتــــونه وېــــشل کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library





## عبدالمتین شورش

عبدالمتین شورش فرزند محمد عوض در سال ۱۳۷۳ خورشیدی در شهر کراچی کشور پاکستان در یک خانواده دیندوست متولد گردیده.
شورش در سال ۱۳۸۲ خورشیدی وارد لیسه عالی مرکز بغلان شده و در سال ۱۳۹۳ خورشیدی از لیسه مذکور موفقانه فارغ گردید. نامبرده با سپری نمودن آزمون کانکور به پوهنځی زبان و ادبیات دری پوهنتون ولایت بغلان راه یافت که فعلاً سرگرم فراگیری علوم ادبي در این بخش میباشد.
شورش با علاقه که نسبت به ادبیات و شعر دارد در فعالیت های ادبی و همایش های فرهنگی اشتراک میورزد و خود نیز در قالب غزل و دو بیتی شعر میسراید. حافظ شیرازی و مولانا جلال الدین محمد بلخی از شاعران کلاسیک همچنان کاوه جبران، فاضل نظری و شریف سعیدی از شعرا نسل جوان از جمله شاعران مورد پسند شورش است.
آزادی فکری اسلامی، آرامی کشور و آبیاری قلوب جوانان مسلمان به عقاید مقدس اسلامی از آرزو های بزرگ عبدالمتین شورش میباشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کلام

انگار فرصــت است که ایمان بیاورید

از دوش خستــه اسلــحه پایان بیاورید

آتش زدیـــد جنــــگل انــــبوه را کمی

مقدار زره قطـــره ای بــــاران بیاورید

بـــرنونهال هـــای که اصــلا برهنه اند

ازباغ و برگ فیض و بهــــاران بیاورید

ای باد ها تحمــل خاموشـــی تا چه حد

شور آفریده شـــورش وطوفـــان بیاورید

آنقدر خسته کن شده دنیا از این به بعد

بر ایــن قتـــال نقطـــه پایـــان بیاورید

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

در پـــیش من نشتـــه و گیتـــار می زنی
با پنـــجه های خسته و بیـــــمار می زنی
در فکر تو که خاطـــــر من شاد می شود
قمچین به روی زخـــم جریـــــدار می زنی
در جمع سردمان خواص با کــــدام چشم
لاف جـــــوان مـــــرد و ایثـــــار می زنی
ای مـــرگ! نـعش خـــیس مرا تا کجا بگو
بر روی شـــــانه های خـــودم بار می زنی
نستالینم! ضمیر تو خون خواریست و بس
روح مـــــرا به پیکـــــر مــــن دار می زنی

(c) ketabton.com: The Digital Library





## نـورگـل انـدړوال

نورگل اندړوال د عبدالمنان اندړوال زوی او د فضل الحق اندړوال لمسی دی چې د ۱۳۷۴ لمریز کال د بغلان ولايت د مرکزي بغلان ولسوالۍ د خواجه خان بابا په یوه فرهنگي او دینداره کورنۍ کې نړۍ ته سترگې غړولي.
اندړوال په ۱۳۹۰ لمريز کال کې د مرکزي بغلان له عالي لېسې څخه فارغ او خپلې نيمه لوړې زده کړې يې د مرکزي بغلان انستيټوت د ادارې او مديريت په څانگه کې بشپړې او په ۱۳۹۱ لمريز کال کې ترې فارغ شو .

اندړوال د اقتصادي ستونزو د مخ کېدو سره سره په ۱۳۹٦لمريز کال کې تر خورا زيات ځنډ وروسته يو  وار بيا د کانکور آزموينه ورکړه او د خپلې خوښې پوهنځي ( د ژبو او ادبياتو پوهنځي پښتو څانگې ) ته بريالی شو او اوس هلته په زده کړو بوخت دی.

اندړوال په ۱۳۸۹ لمريز کال کې شعر ليکلو ته مخه کړې او شاعرۍ ته د مخې کېدو  لامل يې  اندړوال د زمانې د تاړاک او ورسره د مبارزې تر څنگ په هېواد او ټولنو کې ستونزې ، نادودې او شته بدبختۍ په گوته کوي چې رنځ ترې وړی او اړ شو، ترڅو خپل احساسات د قلم په څوکه منظوم کړي او دغه درد ته انعکاس ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندړوال ډېر شعرونه د غزل په فورم کې دي او په پخوانیو شاعرانو کې یې د خوشحال خان خټک او حمزه بابا او په اوسنیو شاعرانو کې یې د عبدالستار سعادت او شهنواز باقر شاعري خوښه ده.

نورګل اندړوال خپل ټاټوبي ګڼو ادبي خوځښتونو او فرهنګي غونډو کې رغنده ونډه اخلي او د ادب پالو په کتار کې ولاړ دی، تردې دمه د نورګل اندړوال یوه شعري ټولګه (د کلي ژوند) په نوم چاپ او تر لوستونکو رسیدلي.

د اندړوال ستر آرمان په هېواد کې جګړې حل او د پښتو ژبې د بډایه والې تر څنګ دفتري کېدل دي.

پیغام یې نوي نسل ته دادی چې خپلې ژبې او فرهنګ ته د کار تر څنګ ګڼ ادبي او هنري اثار له نورو ژبو راوژباړي تر څنګ پښتو ژبه لکه نورې ژبې بډایه شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کلام

چې ترمو اوښکو مـې په هر حـال کې يـاري کړې ده
د عشق حـــرم کـې مې د خپل زړه بنده ګي  کړې ده
لېونۍ هـڅه نـوره څنـــګه وي په نـــيت د وصـــال
په خوب او خيال کې مې ستا هر وخت ريباري کړې ده
ښکاري چې روح لـه تانـــه نه وړي هـېڅ د مرګ ملکې
کنـــه څو ځـــلې مـا پـه تـا انتـــحاري کــــړې ده
غېـــږ کې مې ونېـسه مـــړ کېـږم بې د عـشق له نمه
ما لکه ژبـــه پـه خولـــګـــۍ کې زنـــده ګي کړې ده
شيخي منـمه پـه مستـــــي کــې د ژونـــد برم سره
کنه کعبه کــې خو هر چا مسـلمـــاني کـــــړې ده
چې مست، خمــــار او له شور ډک ګرځم د مينې مين
لکه پېزوان مې په ســــرو مينه کې خانـــي کړې ده
هاغـه به اوس هم ليکــــــي لاس باندې نامـــه د نورو
خو انـــــدړوال يې په نوم  لاهـــم شاعـــري کړې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

بې حد ظـــلم ستـــم دې په زړه مات کړم زمانې

حالاتو تــــه دې پاتې جوړ مــېرات کړم زمــــانې

د ژوند په کړلـــيچو کې د بـــريا تر بـــريده تلمه

ناکام دې د وختــونو په خپــل ذات کـــړم زمانې

بې څکه مې څه غـــواړي او يـــو څه ځي رانه لرې

هېواد ته دې تـــور زهـــر بل ته شات کړم زمانې

زما د سپېڅلتـــــيا او تقـــدس حـــد ته خو ګوره

په خاوره د يهود ژوند د جومــــات کړم زمانـــې

په موټې موټې خاوره ددې مـلک له سره تېر شوم

شهېد دې د ښـــارو د چـــــم وفات کړم زمانې

راتــويه شومه اوښـــکه وم د مــخ له آســــمانونو

لېـــدو تــه دې د څـو مينو قـــات کړم زمــانې

چې هر سړی تر وسي راکې خــپلې ګټې ګـــوري

په شــان دې د ټاکنـــو ستر پســات کړم زمانې

خـــوړو د خـــواخوږيو ســـره تلـم پيوند کېدمه

راجــــوړ شومـــه غزل ټول خيــالات کړم زمانې

راځـــي چې ټــول مې لولـي اندړواله سم په مينه

زه کـور د پوهـــي فـــکر ادبيــات کړم زمــــانې

(c) ketabton.com: The Digital Library





## عبدالمبين صافی

عبدالمبين صافی د الحاج غلام محمد زوی او د ملا محسن لمسی په ۱۳۷۵ لمريز کال بغلان ولايت، مرکزي بغلان د قاضي کلي په يوه ديندارہ او مجاهده کورنۍ کې سترګی فاني نړۍ ته غړولي دي.
نوموړی په ۱۳۸۰ لمريز کال د خواجه خان بابا منځني ښوونځۍ کې خپلې لومړنۍ زده کړې پيل او په ۱۳۹۱ لمريز کال کې د سمنګانو ولايت ائينچې ښوونځۍ څخه فارغ شو.
صافي د کانکور آزموينې له لارې د سمنګانو پوهنتون کرهنۍ پوهنځۍ ته لار پيدا کړه او په ۱۳۹۵ لمريز کال کې يې له دغه پوهنځۍ څخه د لوړو زده کړو فراغت پاڼه ترلاسه کړه.
په کال ۱۳۹۴ لمريز کې ادب او شعر سره بې ساري علاقې دې ته اړ کړ ترڅو خپله هم شعر وليکي او د شعر په ژانر کې اخلاقي اشعار ليکي.
کلاسيکه دوره کې يې رحمان بابا، حافظ شېرازی او په معاصره دوره کې شهنواز باقر، مطيع الله تراب، بخت زاده دانش او عبدالله تنها يې د خوښې شاعران دي.
ادبي خوځښتونو او فرهنګي غونډو کې رغنده برخه اخلي او خپل ټاټوبي کې د ادب پاله ځوانانو څخه شمېرل کېږي، لا تر اوسه دوه ناچاپ شوې اثرونه ( د ډېوې رڼا او ورک اتلان) او ورسره پښتو ژبې ته کتابونو ژباړې هم لری چې نږدې موده کې به چاپ ته وسپارل شي. آزاد افغانستان کې سوله،

(c) ketabton.com: The Digital Library



آرامي او اسلامي نظام یې ستر آرمان، خپل ټاټوبي او هېواد کې ځوان نسل په ادبي او فرهنګي جامو کې رانغښتل یې لویه هیله ده.

**کلام**

ګله ته چې پـــروا کـــوې د خلـــکو
زنده ګي به په رضـــا کوې د خلـــکو
د خیال حلقه دې ځان سره سمبال کا
په سر کې چې سودا کوې د خـــلـکو
مخـــتګ کېسه بیا هسې معمـــا ده
پـــه لاره کې نِدا کـــوې د خـــلکو
د غـــزل توري دې اور ته ورپســـې کا
چې پـه مدحَ کې صبا کوې د خــلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

يو څوک زما يادېږي په يو چا پســــــــې خـفه يم
په خپل ځان کې ورک شوی په سبا پسې خـفه يم
سترګو کنج نه مې بهېــږي بد الفاظو نرۍ اوښکې
رومــال پسې ګرځيــــږمه په تا پســــی خفه يم
نــشه يمــه په خـــوا دې ســـرابـــونو روان شوی
په نشـــت منـــزل کې ګرځـمه آشنا پسی خفه يم
نيـــمګړی پاتــې شـــوی مکمـــل نه يم له هجره
يو زړه مې راسره ده خـپـلې ســاه پســی خفه يم
آهـــونو په سخـــتۍ کې زمـــا روح دی آزار کړی
په ښـــار د درمـــلو کې دعا پســـــی خـــفه يم
ګيلې مې دې تقـــدير له تانه هېڅ نکـړم زړګـيه
انقــلاب د غـــټو ستـــرګو معــما پســی خفـه يم

(c) ketabton.com: The Digital Library





## رحـمت الله قـریـشی

رحمت الله قریشی فرزند عبدالعزیز قریشی، در سال ۱۳۷٦ هـ.ش در یک خانوادۀ علم دوست در قریۀ امام قتیبه (رح) بغلان مرکزی متولد گردیده.

قریشی در سال ۱۳۸۴هـ.ش مکتب را آغاز و در سال ۱۳۹٦هـ. ش در لیسه عالی بغلان مرکزی به اتمام رسانید. بعد از سپری نمودن آزمون کانکور به پوهنځی زراعت ولایت بغلان راه یافت. و در حال حاضر مصروف فراگیری دروس در رشته مذکور میباشد.

موصوف نظر به عشق و علاقه که با فرهنگ و ادب داشت، در سال ۱۳۹۰ آغاز به شاعری کرد، در قالب های غزل، رباعی، و دوبیتی شعر می سراید.

قریشی در سطح بغلان مرکزی در انجمن های ادبی و همایش های فرهنگی اشتراک می ورزد، نامبرده اثر مجموعه شعری اش را بنام (یک پرنده در قفس) به چاپ رسانیده است.

مولانا، رحمان بابا از شاعران کلاسیک مورد پسند قریشی بوده، صلح و امنیت سراسری در کشور و رو آوردن جوانان به دروس از آرزو های بزرگ رحمت الله قریشی میباشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کلام

بی شــکایت میروم ای یار دیگر نیستـــم
عـاشـق پاره یخن انگـــار دیـگر نیستـــم
پنجره هم شاهد حــال از سـرود اشـــکها
پا بــه پای صوت یک گیتـــار دیگر نیستم
نعـره ها سر میدهم تا پشــت بام تان عزیز
جـز فدای وصلت دیـــدار دیگـــر نیستم
دامن اشکم خرامان می سرود این کوچه را
لایق ایــن خیزش اشـــعار دیگر نیـــستم

***

در خون خود هــزار تپیدم نیامـــــدی
آخر به حال مرگ رســیدم نیامـــــدی
آمد نسیم و گفت نیــــاید نـــــگار تو
هر چی که گفت و من نشنیدم نیامدی
شب تا سحر به یاد رخت گریه مـــیکنم
از هجر تو چه ها  که ندیدم نیامـــــدی
کندم امید خویش ز اقـــــوال دیــگران
در گوشه ای نشسته رمیــــدم نیامــدی

(c) ketabton.com: The Digital Library





## عـبدالقیوم طـاهـری

عبدالقیوم طاهری فرزند عبدالغیور نیازبیک و نوه محمد طاهر بوده، وی در سال ۱۳۷٦خورشیدی در ولایت بغلان متولد گردیده.

طاهری در سال ۱۳۸۳خورشیدی وارد لیسه نوی بغلان مرکزی گردید، در سال ۱۳۹۳خورشیدی موفقانه از لیسه مذکور فارغ شد.

نامبرده در سال ۱۳۹۴ خورشیدی غرض تحصیلات عالی وارد پوهنځی طب پوهنتون خصوصی ترکستان شد، و تا اینک به ادامه یی تحصیلات خویش می پردازد.

احساس، خیال و عشق وی سبب شد که در سال ۱۳۹۳خورشیدی به شاعری رو بیاورد. وی به سبک شعری معاصر شعر می سراید.

مولانا جلال الدین محمد بلخی، حافظ، بیدل، وحشی بافقی از شاعران دوره یی کلاسیک، رضا محمدی، عبدالسمیع حامد،عاطف کابلیان، اسحاق ساقبی از جمله شاعران جوان مورد علاقه یی طاهری میباشد.

طاهری در همایش و انجمن های ادبی سهم فعال داشته و خواهان ترقی فرهنگ و ادب میباشد. تا الحال دو اثر چاپی‌دارد.

شاعر و نویسیندۀ بودن مطرح در سطح کشور و جهان از آرزو های بزرگ و ایجاد انجمن ها و جشنواره های ادبی در سطح افغانستان از آرزو عبدالقیوم طاهری میباشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کلام

مادر نشد بـــرای شـــب ات نان بیاورم
یا که به رنـــج و درد تو پـــــایان بیاورم
در شهر کفـــــش پای خودم را فروختم
تا چـــادرت برای زمستـــــــان بیاورم
هر صبح کوچه ها به سرم خنده می کند
وقتی که شـــام را به تو حیـــران بیاورم
هرگز نشد شبـــی به حضورت سخن زنم
یا بر لبان خشـــک تو مـــــن جان بیاورم
مادر خلاصه هیچ نـــــشد مزد دست من
تا دسته ی ز سنبـــل و ریحـــان بیاورم
حالا مـــــرا ببخش دگـــر چاره ام نبـــود
رفتـــــــم دوای درد پریشـــــان بیاورم
رفتـــم به قســـم روز اول از همـــه جهان
یک کشوری بنـــام خراســـــان بیاورم
پسوند کافـری همــه ناحق به مـــن زدند
رفتـــم که تا نشانه ی ایمان بیـــــاورم
دیدم که هیچ کس به غم من نـــبود غم
ایـــــنجا نشد که طلعت انسان بـیاورم

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

این زندگی فقط غزلــــــی روی باد بود
در کوچه های دل که شــبی اعتماد بود
غیر از غمش که هیچ نـــدارد به من روا
نفرین به این دلی که همــیشه نماد بود
تنها شبی عبور نکـــــــردی ازین دیار
دستم به ماشه در دو رخ امـــــتداد بود
می خواستم اگر به کسی حرف می زدم
این جا نفر به مثل شــــــما ها زیاد بود
هر صبح زود می آمدم شـــــهر پیش تو
بـــر بوی دامن ات که مرا اعــتیاد بود

(c) ketabton.com: The Digital Library





## فـضل الـرحمن سیـرت

فضل الرحمن سیرت د محمد ظریف زوی د میرزا میر لمسی دی، په ۱۳۷٦ لمریز کال کې د پاکستان هېواد کراچۍ ښار سهراب ګوټ سیمه کې زېږېدلی، چې د علېزیو قوم پورې تړاو لري، اوس مهال د بغلان ولایت ډنډ شهاب الدین سیمه کې مېشت دی.

نوموړی په ۱۳۸۱ لمریز کال کې لومړني زده کړې د تور شهید منځنۍ ښوونځي کې پیل او په ۱۳۹۳ لمریز کال یې د کریم شهید لېسه کې خپله ښوونځۍ دوره بشپړه کړه.

سیرت په ۱۳۹۴ لمریز کال کې یې بغلان پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي ته لار پیدا کړه، او په کال ۱۳۹۷ لمریز کې لوړې زده کړې ددغه پوهنځي د پښتو ژبې او ادب په څانګه کې  پای ته ورسولې.

د ښونځۍ مهاله یې د شعر سره  ذوق لاره؛ خو د مینې ټال کې ځنګیدلو یې اړ کړ چې شاعرۍ ته مخه کړي او په کال ۱۳۹۲  لمریز کې یې خپل لومړی شعر ولیکه.  سیرت غزل په فورم کې شاعري کوي. لا تر اوسه کوم چاپي اثر نلري؛ خو یو اثر یې چاپ ته د جوګه کېدو په حال ده.

پښتو ادب کې یې ټول شاعران خوښ دي؛ خو کاظم خان شیدا، او پیر محمد کاروان یې تر ټولو د خوښې شاعران بولي.

سیرت په ادبي خوځښتونو او بهیرنو کې تل رغنده برخه اخلي، عصري ټکنالوژۍ څخه د ځوانانو سمه ګټه اخیستنه یې  ځوان نسل ته پیغام ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کلام

د زړه د سهـــــارونو ګل غوټۍ وه لرې لاړه
د پرخې خاموشۍ کې لیونــــۍ وه لرې لاړه
د روح دې اهتــــزاز هرې نڅـا کې ګډېدله
پرهر پرهر وجود کې مې سلګۍ وه لرې لاړه
د حســـن په ګرېوان کې سمنـدر څپې وهلې
د سترګو په صحرا کې یې ږلــۍ وه لرې لاړه
همدغه یې ویل چې یاره ستا هېرول ګران دي
شېبه شېبــه یارۍ کې بغلانــۍ وه لرې لاړه
سیـــرت ورته د مینې کربـــلا یوه نغمه کړه
د زړه په دهلېزو کې مې جنــۍ وه لرې لاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

يواځې نه يمه خپل ځان کې مې بل ځـــــان لېدلی
بی خوده گـــــرځم ستا لېدو کې مې تـــاوان لېدلی
د زړه خېمه مې ستا د شونډو غوړپ ويـــجاړه کړله
په هر يو غوړپ مې د غزل غوندې جـــانان لېدلی
لکه د ســــــولې تږی گرځـــــم تاپســـې در په در
دغه آرمان کې مې د هـــر افغان ارمـــــان لېدلی
ومــــــه روان يو لاروي راتـــــــه اواز وکـــــړلو
د ســولې تږيه! ما د سولـــــــې لوی کاروان لېدلی
يوه شـــــــاعره راته خيــــال کې غزلونه ليـــکي
په هر غـــزل کې مې د خپل زړگې درمـــان لېدلی
د زړه جهيـــــــل کې مې د مينې کلـــيسا جوړوي
ما په چـــــــونغر کې د الفت يو ثنا خـــوان لېدلی
سيرت بې وسه دی څه نه وايي تيـــــارو کې اوسي
د تېر شوي وخت کې خپل ژوندون مې وران لېدلی

(c) ketabton.com: The Digital Library





## سمیع الله دولت زی

سمیع الله دولت زی د نور احمد زوی د ګل علم لمسی په ۱۳۷۷لمریز کال کې د بغلان ولایت مرکزي بغلان ښار کې زیږېدلی دی، چې د دولت زیو علي شېرخېل کورنۍ پورې تړاو لري.
دولت زی په ۱۳۸۲ لمریز کال کې د مرکزي بغلان عالی لېسه کې شامل او په کال ۱۳۹۴ لمریز کې یې له یادې لېسې څخه  د فراغت سند تر لاسه کړ.
په ۱۳۹۴لمریز کال کې د کانکور آزموینې له لارې د کندهار ولایت د ژبو او ادبیاتو پوهنځي ته بریالی شو چې اوس مهال یاد پوهنځی کې زده کړې ترسره کوي.
په کال ۱۳۹۳ لمریز کې یې شاعري پیل کړې او د غزل په فورم کې شعر لیکي.
پخوانیو شاعرانو کې عبدالحمید مومند او په معاصره شاعرانو کې یې عبدالباري جهاني د خوښې شاعران دي.
دولت زی ادبي خوځښتونه کې ونډه اخلي او  پخپله د ادبي څانګو کارکونکی ده او همدارنګه ځینو ویب سایټو کې لیکوالي هم کوي.
د ځوان نسل احساسات او ذهني ادراک راویښول او همدارنګه هغوی کې د مسؤلیتونو ځواک راژوندي کول یې ستره هیله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کلام

ته وايې پيـــسې دې وي د تورې تورې شړنــګ دې وي

زه وايم قلــــــم دې وي د وچې ډوډۍ ټـــنګ دې وي

ته وايې محــتاج دې وي په هر کلي کې جنــګ دې وي

زه وايم مينه دې وي شور دې وي غورځنــــګ دې وي

ته وايی ټوپک دې وي ټوپک په خوله کې کړنګ دې وي

زه وايم چې سـوله دې وي ژوند دې وي پالنګ دې وي

ته وايې چـــې شـمعې ســـره شاوخوا رڼــــا دې وي

زه وايم چې ګــل دې وي بـــورا دې وي پتنګ دې وي

ته وايې چې خان دې وي غريب دې وي نيرنګ دې وي

زه وايم چې ټول دې ســــره وروڼه په يو رنــګ دې وي

ته وايې خټګر دې وي دهـقان دې وي کولنــګ دې وي

زه وايـــم سمـــــبع دې وي دده د قلم رنــګ دې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

کور په کور زړګی پرهر درپسې ګرځم
له پخوا نه اوس بهتر در پسې ګرځم
زما زړه پیوندول څه آسانه نه دي
خو بیا هم اوتر اوتر درپسې ګرځم
تور نقاب له مخې لرې کړه ظالمې
لالهانده په سحر درپسې ګرځم
زه اوس هم ستا د بشر د لېدو تږی
په بازار لکه سوالګر درپسې ګرځم
دا زمونږ کلي کې ولی غوغا نشته
خاموشۍ کې مرور درپسې ګرځم
نن راته داسې په نازکو شونډو وویل
یاره دولتزیه تر محشر درپسې ګرځم

(c) ketabton.com: The Digital Library





## عبدالوهاب مومند

عبدالوهاب مومند د معلم عبدالجبار مومند زوی او د عبدالستار مومند لمسی دی، چې په ۱۳۷۹ لمریز کال د بغلان ولایت مرکزي بغلان معلم شعبان کلي په یوه علم دوسته کورنۍ کې فاني نړۍ ته سترګې پرانیستي دي.

نوموړی په کال ۱۳۸۴ لمریز د مرکزي بغلان عالي لېسه کې شامل او په ۱۳۹٦ لمریز کال کې له دغه ښوونځۍ څخه فارغ شو.

د کانکور آزموینې له لارې یې په ۱۳۹۷ لمریز کال کې خپل د خوښې پوهنځي (د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، پښتو څانګی) ته بریالی شو او اوسمهال دغه پوهنځي کې خپلې لوړې زده کړې ترسره کوي.

د ادب سره مینه او ژور تړاو اړ کړ چې په ۱۳۹۵ لمریز کال کې شاعري ته مخه کړي او د غزل په ژانر کې له نازک خیال سره په کم عمر اوچت غزلونه ولیکي.

رحمان بابا د کلاسیک دورې او حمزه شینواری، بخت زاده دانش، مفتون او شاهنواز باقر یې د معاصرې دورې د خوښې شاعران دي. ادبي خوځښتونو او مشاعرو کې تل رغنده ونډه اخلي او په سر کې ادب پال خیال لري. لا تراوسه یو ناچاپ لیکلی ناول لري، چې نږدې موده کې به چاپ ته وسپارل شي.

هېواد کې سوله، او د خپلو نیمګړو موخو ته رسېدل یې تر ټول لوی آرمان دی. ځوان نسل کې د فرهنګ او ادب پیاوړتیا یې ستره هیله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کلام

مظلوم ولس ته سپر یم زه به مرم که پاتې کېږم
جانان پسې اوتــــر یم زه به مــرم که پاتې کېږم
وليان او مقتديان هم د ځيــــــنو ځيني ښـه دي
فرعون څخه بهتــر یم زه به مــرم که پاتې کېږم
د شمعې له اور وړانګو نه ســوزځېږم وېلې کېږم
بيا هم پسې سحـــر یم زه به مــرم که پاتې کېږم
زما د خيال جامـــې خو په رنـــګونو ګنـډل شوي
د مينې دې سوالګر یم زه به مرم که پـــاتې کېږم
د سپينې سولې مړ یم لږ باور وکړه مـــــــــومنده!
د سولې کبوتــــر یم زه بـه مــــرم که پاتــې کېږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

زه ستـــا د تورو زلفــــــو تسلل ته رســېدم

بس ورک غوندې لاروی ومــه منزل ته رسېدم

د خیال په مړوندو مې خپل سر په کاڼي کېښود

ویده په تـــوره خونـــه وم ګوګـل ته رسېدم

ملنګ غوندې سړی وم خپـــل روزګار مې چلوه

د ټکندې غــــرمې سېــزلي جــل ته رسېدم

رباب کې شـــور نغمه وایـــم همداسې رباعي

کتل مې ښکلي مـــخ ته شـــوخ غزل ته رسېدم

مـومنــــده د ګلونو په خـــار زلـــفو کې د بڼ

په لاس کې مې چارګل و ستـــا اوربل ته رسېدم

(c) ketabton.com: The Digital Library





## عـاشـق الله جـلال زوی

عاشق الله جلال زوی د جلال الدین زوی د عبدالدیان لمسی دی، په ۱۳۷۹ لمریز کال کې د بغلان ولایت مرکز د ټغرو کلي په یوه دینداره کورنۍ کې زېږېدلی دی.

عاشق الله جلال زوی چې په ادبي ملګرو کې د جلال زوی په نوم یادېږي لومړنۍ زده کړې یې خپل پلرني ټاټوبي چشمه شېر د عمرخېلو منځني ښوونځۍ  کې پیل کړي او اوس مهال د سیدجمال الدین افغان لېسه کې خپلې پاتې زده کړې بشپړوي.

ادب او اشعارو سره شوق اړ کړ چې شاعرۍ ته مخه کړي. چې په ۱۳۹۴لمریز کال کې یې خپل لومړی شعر ولیکه، او همدارنګه د غزل په فورم کې ښایسته او نازک خیاله شاعري کوي.

شاهنواز باقر او عبدالباسط کلیوال یې د خوښې شاعران دي.

جلال زوی د کم عمر سره لوړ خیال لري، تل ادبي خوځښتونو او مشاعرو کې ونډه اخلي، چې د لرې پرتې سیمې چشمه شیر څخه بغلان ولایت ادبي بنډارنو او مشاعرو کې ګډون کوي.

لوړې زده کړې بشپړول، هېواد ته د خدمت جوګه کېدل او د خپل نیمګړې هیلو ته رسېدل یې ستر  آرمان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کلام

ترمنــې اوښـکې مې په مخ بانـــدې بهېږي خدایه
په کـــور مـــو هره ورځ بمونـــه راورېږي خدایه
دلتـه وحشت بیخې ډېر شوي دې مـــالت کې کنه
مینـدې او خویندې مو جلا جـــــلا ژړېـــږي خدایه
د یتیم اوښکې خو په دې ښار کې هېــڅ ونه دریدې
پلار جان یې نشته نور، د هېچا نه خوښـــېږي خدایه
د زړه آرمــــان مې پـــوره شوی که نیـــمګړی پاتې
په وطن ســـوله شـــوه ډېـــوې یې رابلـــېږي خدایه
څه ښکلـــــي ښـــکاري افغانـــــان واړه په یو مټ
تور سور شیـن بیرغ په لوړ چنار باندې رپېږي خدایه
دغه پـــاکه خــــاوره کې غلا او غاصـــبین ډېر شوي
د یو غـــریب د یو یتیم حق خــــوړل کـــېږي خدایه
جــــلال زوی به خپله وینـــــــــه ډالۍ کې ورکوي
که مـــې وطـــن زما په تـــن بانـــدې رغېږي خدایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

په گرمو اوښکو یې د مینې تـــــباهي جوړه کړه
په یاد د ښکلو مې جانانه زنـــــده گي جوړه کړه
جرگې ورلېږمه خو پلار مـــــغرور یی نه قبلوي
دا لا خبر نه وه ما آسمـان کې ریباري جوړه کړه
زه لا ژوندې ومه مړ نه ومـــــه لا ژوند مې کاوه
دا بې وفا شوله له بل سره یې یـــاري جوړه کړه
د غم سندرو یې له پیل څخه خوندونه اخیستل
رقیبان خوښ دي په ما یې ښـــــادي جوړه کړه
ظالمه مور دې درته مړه شه چې بې غمه شو نو
دیدن خو بند شو له لیلا یې زنـــــداني جوړه کړه
ته لا تر اوســــــه بېـسواد یې جلال زویـــــه یاره
له تا خو ښه شوه په انډیا کې ماستري جوړه کړه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**